# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: پایلوځ بنګ حبیب اللّٰه

لیکونکی: پوهنمل محمود نظری

کمپوټر اوډونکې: یما نظری

چاپ شمیر: ۱۰۰۰

خپرندوی: کراچی مطبعه

چاپ نیټه: ۱۳۸۴

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په دې ټولګه کې:

وا کتاب خپل محترم پلار الحاج دوکتور محمدامین نظري
ته اهدا کوم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه

د محترم استاد پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار، محترم عبدالواحد نظری او محترم عبیدالله محک چې دا کتاب یې کتلی، تصحیح کړی او ګټوری مشورې یې را کړی یو جهان مننه کوم او کوروداني ورته وایم.

همداسې د پایلوچانو د کیسو په راټولو لو کې د محترم امیرجان، محترم علی احمد ، الحاج محمد کریم ، محترم بصیر احمد او نور هغه کسانو چي زما یې نومونه هیر شوی دی کوروداني وایم او د زړه له کومي مننه ځینی کوم

د دیزاین ، ترتیب او طرح په برخه کښې د محترم یما نظری او په چاپولو کې د محترم مسعود د هلو ځلو څخه مننه کوم او په ژوند کې لا بری ورته غواړم

په درناوی
پوهنمل محمود نظری

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۸۶

# په دې ټولګه کې:

له طنزه تر داستانه---------------- ۶
سریزه------------------------- ۱۳
پایلوټ بنګ حبیب الله------------- ۵۱
غرغړه------------------------- ۵۶
یوه لپه خاوره------------------- ۷۰
د کور هدیره-------------------- ۷۷
غاو--------------------------- ۸۵
مرور-------------------------- ۹۸
غچ--------------------------- ۱۱۲
غولېدلی----------------------- ۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له طنزه تر داستانه

داخل مې مخې ته د محمود نظري یوه داستاني ټولګه پرته ده.یو کال له مخه مې پردرېیمه طنزیه ټولګه همداسې یو څو کرښې ورکښلې وې او په هغه کې مې دغه هڅاند لیکوال تر هر څه مخکې د یوه طنز او مزاح کښونکي( Satirist & Homourit) لیکوال په توګه
خپلو مینه والو ته وروپېژندلی وو او هغه په پښتو کې د دغو ادبي ځیلونو ( Literary generes ) له ګوتو شمیر
نوښتګرو قلموالو شمیرلی وو ، خو د دې داستاني ټولګې له وړاندېینې سره یې را زیاته کړه چې سړی خو پرهغه دوه ځیلونو بسیا نه دی پاتی او درېیم دیته یې قلم راغځولی او خپله وړتیا او نوښتیا پکې ازمایي.
رښتیا هم یوه داسې هڅاند لیکوال ته چې خپل زېرند څوب او وړتیا یې لومړی په طنز و مزاح کې پرکار اچولې او په پوره بریالیتوب یې له توغه راوتلی هم دی کوم ناشونی کار نه بریښی چې کیسې ولیکی او ورسره ورسره کیسې وګټي
کوم ازمېښت او نوښت یې چې په هغو ډګروکې په برخه شوی، په دغه څه نا څه ورته ډګر کې هم په برخه کېدای شی او هغه دا چې د خندا او موسکا د توکو په کمونې سره ورته سوچاو سوژو ته په اسانه داستاني بڼه او وکر وربښلای شي، تر دا منځ ورته نه کرکتر رغاونه کومه ستونزه لری او نه انځورونه، غوټه اچونه-پرانېستنه،نه کړکېچ او تلوسه، پیلونه او پایته رسونه.
خو په سر چپه ټوګه په یوه هر داستاني لیکونکي ته دومره اسانه نه وی چې خپل داستان ته طنزومزاح وکر(هویت) ورو ښيي او خپل ازمېښتونه او نوښتونه ورولېږدوي.مګرنظری په دغه لومړنۍ ټولګه راوښووله چې ځان را باندې د غبرګو ، په بله وینا دروګونو ادبي ژانرونولیکوال او بیا بریالی لیکوال را پېژني او پوره باور دی چې که دغه درې سره ځیلونه همداسی همزمان او اوږه پراوږه پر مخ یوسي او ورسره ورسره د یوی کره پښتو خیال نور هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګ وساتي، بې له کوم ارنګ برنګه به په دغه اړه پرله پسې برې او بریاوې د قلم د نیلي سوې ورښکل کړي او پر دی سربېره سربېره د خپلې مورنۍ ژبې او ټولنې په وړاندې خپله پاتې ژمندویي او استازندویي(تعهد و رسالت)پر ځای کاندي.
د پایلوچ بنګ حبیب الله دغه داستاني ټولګه یې چې تر درې ګونو طنزیه او مزاحیه ټولګو(د ځوکۍ خوند ،سر خلاص که! او انساني سرکس) را وروسته یې چاپ وخپراوی ته سپاري تر هر څه له مخه د دې نوښت پر بنسټ ارزول کېږي چې د ږومبني پښتو لیکوال په توګه یې په همدغه نامه لومړی داستان د خپلی سیمې یو له پامه لویدلی ټولنیز پوړ(قشر) رانغاړي او په خورار یالیستیک ډول یې شننه او انځورنه کوي.بنګ حبیب الله یې د مرکزي کرکتر په توګه د ټولو هغه انساني کړنو ښېګنو ،ځانګړنو دودونو او دویونو(قوانینو) رانغښتونکی را پېژني چې له پېړیو راهسې یې په پایلوڅانو اړه درلودلې اوڅارتیا اونومورتیا یې پرې موندلې ده

ښاغلي نظري په دغه برخه کې نه یوازې د یوه کندهاري په توګه له خپلو سیده لیدنو کتنو او نورو ماویلو-تاویلوګټه اخیستې، بلکې د تاریخ پاڼې یې هم ورپسې اړولې رااړولې اواو د بهرینو ګرځندویانو او څېړوندویانو اړوندو اخځونو ته یې هم مخه کړې، لکه څنګه یې چې په خپله لنډه سریزه کې ورباندی ړنا اچولې ده.

داسې اټکل کېږي چې کندهاري پایلوڅان له اړه د هغو خراساني،یا په بله وینا ،سیستاني «عیارانو» له پاتېشونو څخه وی چې په سیستان کې یې د یعقوب لیث صفاري په مشرۍ پر۲۵۳ کال د یوه افغانی دولت بنسټ ایښی وو او ظفر کاکا خیل په وینا یې پوځي اډانه کې پښتو پوره برخه درلوده.«عیار» هم د «ای یار» عربي بڼه انګېرل شوی چې پښتو انډول«ای مل- ایمل» کېدای شي.

دا بېله خبره ده چې د چا خبره نن سبا« به جټانو کې هم نور څوک آرو اصیل پاتې نه دی» او ان به مسلمانانو کې هم نور څوک سم و سهی نه لېدل کېږي او هغه آر ورښتیني اسلامی خویونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سپېڅلي کړه وړه تري بنستيپالو لوټلي او تروښلي دي ، دغه راز هغه څه چې زموږ نوښتګر داستان لیکونکی د خپل پایلوخ اتل په شننه او ستاینه کې کښلي او انځورلي دي، له ښایسته ډیر مهاله نور د تاریخ یوه برخه ګرځیدلې او په هیڅ یوه او سني پایلوخ کې یې څرک نه لګي. یوازې او یوازې یې هماغه منفي او ناټولیز اړخونه خوندي پاتې دي. که پخوا یې له بډایانو را شوکولې او پر بېوزلانو ته یې ورو بشلې او س یې له بېوزلانو را شوکوي او خپل ځانګړی درد پرې درملوي.دا یې نن د بدګنو او بېلاریو یوه وړه بېلګه ګڼل کېږی چې یوخوارکی ګاډیوان نیمه شپه د ښار له چوکه یې تر «سرپوزی» پورې ډګاډګ وځغلوي او چې بیا ترې په مات مخ د کرایې غوښتنه کوي په غبرګون کې یې څو مردکې ورډالی کوی او مړی یې له اس سره هملته لبوانو ته پریږدي

په هره توګه د لیکوال همدغه غځېدلی لنډ داستان رښتیا هم د دی جوګه دی چې خپله ټوګه پرې ونوموی او ما هم د یوه شهکار په توګه د خپلې دغې لنډې ارزونې بېلګه وګرځوله او نوری داستاني بېلګې یې ورهڅېزو کره کتونکیو او ارزوونکیو ته پریږدم ګوندی ګران نظری هم دغه یو څو کرښې د دیوې دوستانه پیرزوینې په توګه په ډیر څه وشمېری.

د پوهنمل محمود نظری د لا ډیر ازمېښتونو او نوښتونو به هیله

پوهاند دوکتور م.ا.زیار
اکسفورد-جولای۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

د بنګ حبيب الله کيسه داد داسونا ميانو او کلکو خلکو کيسه ده چي په ټوله نړۍ کي يې په کلکوالي او غيرت کي ثا ترا وسه نه سيال او نه بېلګه ليدلې يا اورېدلې ده.
دلته د يوه بهرنی ژورناليست د ځيرنې پايله په لنډه توګه ليکم:
جروان دايک امريکايي ژورناليست (په افغانستان کي څه تيرېږي؟) کتاب کي د پايلوڅانو په هکله داسې کښلي دي:
ډير کلونه وړاندي چي کله ايرانيانو پر دغه هيواد يرغل وکړ او دغلته يې ډير زيات جنايتونه پيل کړل، خلکو لومړی نه شوله کولای چي د هغوی په وړاندی را ولاړ شي خو وروسته يو شمير ځوانان را پيدا شول او په خپلو کي يې تړون سره وکړ چي د دغو پرديو يرغلګرو په وړاندی مبارزې ته را ولاړ شي او خپل مال او هيواد نه دفاع وکړي ، ددې لپاره چي خپلو غليمانو ته خپل واک ښه څرګند کړی، به لوڅو پښو به يې تګ راتګ کاوه ،دغه کار يې د غليم په وړاندې د مقاومت او سر سختۍ نښه وه ، پردې سربيره يې به لوڅو پښو منډې وهلاې شوې او کولای يې شول چي په ځانګړې توګه د شپې له خوا بېله غږه غوږه پر غليم بريد وکړی. هغه وخت په دې سيمه کې پاړ سي ژبه هم دود وه نو ځکه خو پاړسيانو دوی پای لوچ(پا لوچ) وبلله.
دغه پايلوڅان د دی هيواد تاريخي اتلان او د بې وزلو او بې برخو خلکو پلويان وه.
هغه وخت چي احمد شاه بابا واکمني ته ورسيد (د درانيانو واکمني دوه سوه کاله په افغانستان کي وچليده) احمد شاه بابا د پايلوڅانو ډير زيات درناوی وکړ ، د هغوي د درناوي لپاره يې د جشن او ښادۍ په توګه يوه ځانګړې ورځ وټاکله او هغوی يې ښه او رښتينی خلک وبلل.هغه دغه خلک د شاه مقصود په نامه په يوه سيمه کي استوګنې کړل چي اوس د کندهار په شمال کي د ډيرو ښو سيمو څخه ده.
پايلوڅان يو ځانګړی يونيفورم لری، پراخ او اوږد شين رنګه کميس او پرتوګ اغوندی د جامو د ګنډولو لپاره يې څه ناڅه پينځلس متره ټوټه پکار ده ، شين ويره توره لونګۍ تړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټو یې تل پر ولو پروت وي، چاړه ، د هوسۍ ښکر ، خردوم(یوه متره رسۍ چې یوې خوا ته یې یوه ټوټه وسپنه تړل شوي وی ) له ځانه سره ګرځوي.
که څوک و غواړي د پایلوڅانو به ډله کي شامل شی په لومړی سر کي باید د هغه پېژند ګلوی وشي تر هغه وروسته ازمېښت پرې کېږی چې ورتیا یې لری او که نه؟دغه غوراوی (انتخاب) زیاتره د ځوانی په وخت کي تر سره کېږی.
او ګوری چې د اور په وړاندی څومره ټینګار کولای شی؟ هغه باید خپلې پښې او لاسونه اور ته ونیسي او د اور ټوله تودوخه وزغمی. وروسته باید شپږ میاشتي یا یو کال زغم وکړی چې کړه وړه او خبرې یې وارزول شی، بیا یې ژوند جګړې( مبارزې) عملی ډګر ته راڅکوی. که ټپي شو باید چا ته فریاد ، پلپوټ ( شکایت ) ونه کړی.د ټولو په پای کي وروستې ازموینې ته وربلل کېږی. وروستې ازموینه دا ده چې په یوه ځانګړې شپه کي د یو شمېر کسانو په وړاندی باید ځان لوڅ کړی یانی بې پرتوګه خپل ټول کالي وباسی، د ملا پر تخته یې د اور سکروټې اچول کېږی او په دغه مهال کي باید چرس وڅکوی. پایلوڅانو ته د چرس څکول ارزښت لری هغوی چرسو ته ( بوټۍ ) وایي د هغو به عقیده چرس انسان خدای (ج ) ته نږدی کوی او له ګناه څخه یې ژغوری. پایلوڅان دینپاله خلک دی دغه ګردا زمیښتونه د جسماني ټینګار د پیدا کېدو لپاره او چرس څکول د رواني ازمیښت نښه ګڼي.
مخامخ او تن په تن جګړه د پایلوڅانو لپاره اړین بلل کېږی. که څوک کوم پایلوڅ ته سپکاوی وکړي و پایلوڅ هغه زور ازماینې ته وربلي، ان که کوم څوک هسي په یوه اشاره هم وغواړي د یوه پایلوڅ سپکاوی وکړی د پایلوڅ لپاره تن په تن جګړه لازمېږی.
پایلوڅان خپل پت ټینګ او خوندی ساتی او نه غواړی چې د هغوی په کورني ویاړ کي د سپکاوی داغ پیدا شی که د یوې داسي ننګونې ( چلنج ) سره مخامخ شی سمدلاسه مخامخ لورې مخامخ جګړې ته وربلی. بیا نو دغه دواړه د یو نا څرګند لورې ته روانېږی دغه مهال د دغې موضوع په اړه چې د دوی په منځ کي پېښه شوی ده هیڅ چا ته څه نه وایي کله چې هغه ځانګړې ځای ته ورسیدل. دواړه ځانونه لوڅوی او له پرتوګونو پرته خپلې نوري جامې باسی، بیا نو د سپکاوي والا له لوری برید پیل کېږی هغه څوک چې بریالی شو هغه بل را پر شا کوی یو خوندی ځای ته یې رسوی او ټپونه یې   ورپټی او ټکوروی له دې پېښی څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید هیڅوک خبر نه شی او هیڅ لوری حق نه لری چي شکایت وکړی دا د پایلوڅانو د رسمونو او ادابو یوه برخه ده. هغوی له احساسه ډک خلک دی او ورسره ورسره خدای پاله هم دی پایلوڅان هیڅکله ښځو ته نه ګوری که کومه ښځه هغه ته نږدی شی هغه ځینی سترګي پټوی او خپله لاره بدلوی او یا لکه مجسمې په ځیربې حرکته دریږی. دا وه د پایلوڅانو یوه لنډه پېژندنه.

زما په اند د پایلوڅانو لړی د بنګ حبیب الله له وروسته ختمه شوی ده محلی خلک اوس هم د دې خلکو په کیسو ویاړی شاعرانو شعرونه پر جوړ کړی دی او هر هغه ځوان ته چې د ښو صفتونو خاوند وی ته د پایلوخ لقب ورکوی ګر چي هغه پالوخ هم نه وی. اوس دی نوم خپل کره توب له لاسه ورکړی دی ځکه په وروستیو کې ډیر غلو، لوټمارو، قاتلانو، او لوچګانو د خپل بدو او کرغېړنو کړو و ړو د پټولو په خاطر ځانونه پایلوڅان بللی دی او د وخت حکمروانانو هم د امنیت په خاطر د دې نوم پسې بد تبلیغات کړی.

په دې ټولګه کې ټول اته داستانونه راغلی دی چي لومړی کیسه یې د پایلوخ بنګ حبیب الله ده چي همدا ټولګه هم په دې نوم نومول شوی ده چي دا د یوه ربښتنی پایلوخ کیسه ده. د کندهار دپایلوڅان غیرت او ټینګوالی نه په عیارانو د خراسان او نه د کابل په کاکه ګانو او نه هم د نړی په نورو برخو کې چا لیدلې او نه هم چا اوریدلې دی او ددې ټولګې نوري کیسې لکه غرغږه هم د یو داسې توریالی نیمه سمبولکه کیسه ده چي خلکو ته تور مخې دی د یوه واقعیت د سپړلو په هکله د وطن دوستی یوه ربښتینی کیسه ده، یوه لپه خاوره یوه سمبولکه کیسه ده چي د وطن مور خپلو اولادو ته چي هیواد یې هیر کړی وی د وطن د خاوری د بوی یاد ورکوی د کور هدیره او غاو پر خوارو او بې وزلوخلکو باندی د بهرنیو او کورنیو زوروا کانو د ظلم دوې بیلګې دی غچ هم د زور یوه بله کیسه دی او مرور بیا د خپله بختنه زما او ستا نه د یوه مرور کیسه ده چي ولی انسان ورته د انسان په سترګو نه ګوری او مهاجر بیا د غربت یوه سمبولکه کیسه ده، امید چي د دې تولګې کیسې مو خوښې او د قبول وړ وګرځی

لندن2004

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایلوڅ بنګ حبیب الله

تکنده غرمه وه دوه کلیوال هلکان د شپیشتو پر بار خرو سپاره د مامتې څخه کور ته رهی وه د مصری یو فری یې یو او دوېم فرد یې بل د اسې کوی:

احمد اخوندزاده چي یوه ډبره وه د غره
نامي چپک لالودی چي اقرار نه کوی
فیض الله د منارې چي اوس لا بندی دی
یو امین جان بل داود جان د ناخونی دی
تور بنا د ښکا پوردروازی عجبه نامی دی
د ګوش خانی شاماد نامی په هره لاره
سردار نورزی بیا څومره غښتلی ازلي دی
به صفت ارزی دا نینی مشهور سړی دی
دا نور ماد بیا بیشکه توریالی دی
بل کلاچه کي حسام الدین قصاب په نام دی
د کاښی کلک د ده خواجې رمضان دی
د سرپوزی عبدالاحد عجب جنګی دی
عبدالله د پیرپایمال خورا نامی دی
غوثو کاکړ د دغه ښار عجب زمری دی

....

دې نارو زه ډیر لیری بوتلم خورا لیری او بې اختیاره زما له خولې هم ووته:

احمد اخوندزاده چي یوه ډبره وه د غره
نامي چپک لالودی چي اقرار نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سهار ورمې د شاه آغا د نغارو انګازې آن د ارغنداب تر شنو باغو رسولې چي په اوريدو به يې نازک پوستو انارو وخندل او ځينو به لا له شوق او سوزه خپل ګريوان څيری کړ او دوه ځاځکي وينه به يې توی کړه. د باغونو تر منځ په تنګو کږو وږو لارو کي به پر بودګانو سپرو او پلو ، سپين ږيرو ، ځوانانو ، تور سرو او کوشنيانو به پښې لا چابکي کړې د ايخ ايخ ، هی هی ... ږغونه، دوړې ، دربې او اوازونه به لوړ شول تا به ويل لکه چي نغاړې وايي:
...ژر کوه. ژر کوه ، هله ژر شه
چا به سپين سرې بوډۍ په خره ترلی وه. چا تلتک او نيمځی پر شا او د چا کوشنی غوټه تر ملا ، د چا ناروغ پر شا او چا د درورږ له ښکرو نيولی او د زيارت خوا ته يې کشوی. د چا پسې به په دوړو ککړ، لوڅي پښې کوشنيان روان وه په کوشنيانو به د زيارت د شنو ګونبزو په ليدو له خوشالۍ چيغی ګډې شوې او په ځغاستا ځغاستا کي به تيت او پرک شوله خو د خپلو مشرانو په نارو به چي يې ويل:
هلکو لاسونه سره ورکړی !
نو سره به يو ځای شوله او لاسونه به يې سره ونيوله.
... هلته پير ملنګ کچکول پر سر نيولی په يوه پښه څرخېدی اوږدو غوړو څڼو يې سترګې وربتی کړی وې او سپينه اوږده ږيره يې له چرخېدو سره باد تار تار کوله د ملنګ له خولې نه چي ږغ يې ناست وی د اللهُ اللهُ سندره په سختی سره راوتله ان د شاه مقصودي اميل د ډبرو کړيچی به سمه د موسيقی نغمه ورسره ږغوله. څلور و خواوته يې چارزانو ناستو ځوانانو کړی ( حلقه ) جوړه کړی وه او د اللهُ اللهُ په ويلو يې سرونه کښته پورته غورځوله ، يو نيم به لا له ډيري جذبې اوږد اوږد وغړېد او له خولې به يې ځګونه راغلل.
ګنه ګونه وه هرې خوا ته د دعاګانو درودونه ، د واويلاو نارې ، د دردونو زګيروی، د کوشنيانو ژړا وی او ځغاستی ، ددروږو ړمباړی، د بودګانو شيشنی او هنګا د نهيليو اسويلو د اللهُ اللهُ نارو....
ټوله فضا ډکه کړی وه. شور ماشوروو. څوک ناست وه چا رنګه ټوکران پر شناختو ترل ، چا په په پټه خوله او سترګو د دعا لاسونه آسمان ته لپه کړی وه څوک پراته وه او خوب يې پوره کاوه، څوک نغارو ته ولاړ وه او ځينو نور و بيا له زارت وروسته مېلې ته روان وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ ها خواته د زیارت تر شا د غره په پراخه لمن کي د درختو تر سايي لاندی د اوبو د شر شری ته نږدی سرې جوزجاني غالي اواری وې چې څلورو خوا وته يې د صوفی چیټ کوربچې او بالښتان پراته وه په منځ کي يې د ناوی په شان په مریو سینګار شوی غټ چلم چې خدای دی مې غاړه نه بندوی سر خانه يې پاو - نیم پاو په وار تمباکو نیول او شنه او زرغونه زومبکان يې پر ځړیده او څنګ ته يې په هیندارو سینګار شوی د تمبکو جعبه پرته وه ، د غالیو تر څنګ یو څو تنه ځوانان ناست او ولاړ وه او داسې ایسیده چې چا ته سترګې په لار دی. مېله وه هری خواته ځوانان را ټول شوی وه ، بنډارونه وه او خپلې خورې او ترخې سره کولی کټوی باندی وې او د انارو او انګورو کوارچې هره خوا ته پرتی وې ، ځینو بیا پسو نه الویل او کبابول او د چایو توری چایجوشی او سماوارونه د اور له زوره ایشیدی،
ملک اتاوالله چې چارخول یې له لیری ښکاریده له خپلو نوکرانو سره لاره څارله. د کوم یوه په لیدو لږ وارختا شو او خپلو نوکرانو ته یې وویل:
هغه دی راغله !
نوکرانوژر خپلې لنګوټې سمی کړې او لاس په نامه هرکلی ته ودریدل، یو ځوان چې اوږده ترخیصی کمیس څخه يې د پښې بوجولکې ښې لیدل کیدې ، د اوږدې صدری له پړسیدلی جیب څخه يې د نسوارو کدو چې تل يې د شا بازار د بابک نسوارو خرڅونکی له شا بټل څخه ډکاوه، له لیری ښکاریده، شپږه يې یوی خوا او سیلاوه يې بلی خواته له کمیسه لاندی تر ملا ځړیده، په یوه لاس يې د کمیس لمن د عادت له مخی مروړلې نیولې وه او بل لاس يې لکه ښه روزل شوی اولدار په زوره کښته پورته غورځاوه، د توری لنګوټې شمله يې تر بوجولکو رسیدله او خپله هم د شملې خوا ته کوږ کوږ تی تا به ویل ګواکی د شملې وزن يې سر د ېخواته کوږ کړی دی او یا غواړی وګوری چې شمله يې څنګه پر مځکه کښیږی. په داسې حال کي چې چارآشه موچنې يې په پښو ، خامکی پټو ورپسی څکیده راورسید ، له سلام او روغبړ وروسته لکه د تل په شان په دوو ګوتو کیناست. په داسي حال کي چي خپله اوږده لمن يې پر ځنګونو راکښله د سترګو له کونجو يې ناست میلمانه یو وار بیا تر سترګو تیر کړل. ددی نری، ښایسته او غنم رنګ ځوان په لیدو سره چي غټو سرو سترګو او ګڼو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریتو یې خیرې ته خاص هیبت او جذب ورکړی وو د نوکراو نو تر منځ پوښتنې او کونګوسې پیدا شوی. ملک ورو هغو ته وویل:
دا بنګ حبیب الله دی.
کپه نظر ماد چې غټې لنګوټې یې لکه سایبان پر مخ سایه کړی وه پر آس سپور له دوو پاپیانو سره راورسید ، چې د کرک کڅوړه یې په لاس او خردوم یې تر ملا تړلی وو ، له آسه راکښته شو ، آس یې د ملک نوکرانو ونیوی له سلامه او روغبړ وروسته پر دوو ګوتو کیناست او لمن یې لکه نورو پر زنګونو راکش کړه.
په هم دې ډول شین کریم هم پله کش راغی د بوټو د ایستلو د ځای سره ودرید ، خاورې یې په پښو وشندلې، اسمان ته یې وکتل او په خپله خاصه لهجه یې وویل:
شین یم شین آسمانه !
دی هم له سلام او روغبړ وروسته کیناست.ګود ګوډ ،ګوډ عبدالاحد چې ډیرو ټپو له کبله خلاص خلاص تی هم راورسید او تر سلام او روغبړ وروسته کیناست.تا به ویل دا ټوله دا یوه ټولګۍ هم صنفیان دی. پوخی صالح ماد چې د لنګوټې شمله یې ورپسې څکېده او یو ښکلی ځوان حاضرباش ورپسې وو. تبرزین یې تر ملا تړلی وو کوږ کوږ راورسید همداسې خښته خدای رام ، احمد اخندزاده....
یو د بل پسې راورسیدل. دوه تنه نوکرانو د چلم په ډکولو اخته وه د ملک شاو خوا د ځوانانو چې هغوی هم د غښتلتوب دعوا کوله ناست وه خو نورو د هغه هلکان ګڼل ځکه ازمایل شوی نه وه د ملک د خولې وه او تل د ملک پسې وه د نورو پسې روان ځان ته غښتلی نشوای ویلای نو ځکه د هغو پر خبرو او کړو وړو د نورو خندا راتلله. په دی وخت کې دوه پخوانی نامیان غوثو او نینی فقیر چې سپینې ږیرې او لوڅې پښې وه راورسیدل.
غوثو د یخی کولنګ د نینی پیش قبضه تر لمن لاندی تړلې وه د مجلس یارانو چې تر اوسه چا ته نه وه دریدلی د دغه دوو غښتلو نامیانو د هر کلي لپاره ودریدل. دوی سپین ږیرو ، سیدانو او علماو ته زیات احترام درلوده دا د زمریانو په شان غښتلی نامیان چې په زرو لښتو او سلو چړو به یې د خولی آخ نه وته او نه یې تر ځان بل باتور لیده نن یو ځای را ټول شوی وه هر یو یې د وسپنی یوه کلا د ډبرو یو غر د ځنګله یو زمری اود میړانې یو پهلوان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غیرت بې تاجه باچاهان وه.نن د میړو او نه میړو ، د ټینګو او سستو د نامیانو او بګیلانو د زمریانو او چغالانو تر منځ د سیالۍ او امتحان میدان وو . نو ځکه ټول چوپ وه او ستر ګې له کونجو یې میدان او یاران ځارل د مېلې ډېرو ځوانانو دا باتوران پېژندل نو هره شېبه یې په سا نیولی ټوګه د یوې پیښې انتظار کاوه دادو چې ځان یې نامی باله او د ملک نوکر وو ملک غوښتل دی په نورو نامیانو وپیژنی نو ډک شوی چلم ته د سکروټې دراوړلو لپاره له ځایه پورته شو ، ناستو کسانو دی ځاری چې دی بیا څه کوی؟
د ادو هم لکه دا نور کوږ کوږ له اوږدې شملې سره د اور خواته ورغی او هلته یې د اتشګیر پر ځای په ګوتو سره سکروټه واخېستله د نامیانوو مجلس و مستی ځینی کېده او وینه یې په جوش راغلی وه په داسې حال کي چې سکروټه یې په لاس کي لکه بوجلې چې ښکېلی ښورولو ، او په غروره یې خندل کوږ کوږ د چلم خواته خرامان خرامان روان شو د ملک خوله نه ټولیده او نور نوکرانو یې له خوشالۍ په کالو کي نه ځایده او نه پوهېده څه وکړی؟؟ !
څه چل وشو چې سکروټه یې له لاسه ولویده لاس یې وسو؟ که تر تاثیر لاندی راغی؟ یا نظر شو؟ یا یې هم پام نه وو؟ خو دا کار په داسې یو محفل کي د زغم وړ نه وو تر اوسه ټول چوپ وه یو هم نه پوهیده چې له کومه ځایه یې پیل کړی. غیبت دوی نه کوی دا یې د کم اصلو خلکو کار باله او د ځان صفت یې د نامردانو کار ګڼه دوی مرګ قبلوی خو دغه القاب یې نه ، د بنډار یارانو لکه چې برق چې نیولی وی ، یوه جټکه وخوړه ! لکه له خوبه چې کښېنستلی وی وارختا شول لاس او پښه شول، چورت یې واهه چې دا څنګه بې عزتی یې وشوه؟؟؟
دادو لا پوه شوی نه وو چې ملک یې له خاورو خاکه کړی وو. نو په چټکی د لوېدلی سکروټې خواته کوږ شو خو افسوس د نامیانو میدان یو وار وو لکه ننۍ لوبې بل چانس یې نه لره کټو په یو وار ماتیده او ماته شوه، کېه نظر ماد چې نږدی ورته ناست وو هغه یې په چپلاخه ووهه وار یې له مخه کړ لوېدلې سکروټه یې په خپلو شونډو پورته کړه او په خپله پښه یې کیښودله. د ملک غړی وتښتیدل پر تندی یې د د خولو سیلاب رامات شو او لکه هغه پهلوان چې د حریف په یوه لینګته یې شا مځکې ته رسیدلی وی مات شوی وو ځکه د زمریانو په محفل کي چغالانو ته ځای ورکول د زمریانو سپکاوی وو د غښتلتوب نوم ته دوکه وه او نامیانو ته ښکنځل وه. چې دا بیا د تحمل وړ نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګ په بریتو کې وخندل دا دریم وار وو چې بنګ په بریتو کې خندل :لومړی ځل درې میاشتې مخکې چې محمد اکبر کومندان تبدیل شو او نوی د امنیې کومندان راغی بنګ همداسې خندلی وه

«... د امنیې زاړه کومندان د تسلیمی په وخت کې نوی کومندان ته داسې ویلی وه: ما منطقه د غلو او لوڅګانو نه پاکه کړی ده نور هر څه چې کوې خو په ځو نامیانو غیرتمندو به غرض نه لری بیا یې نوی کومندان د دې نامیانو د لیدو لپاره د هرات بازار خواته بوتی هلته د یو سماوار مخې ته یو کرک ځړېدی د امنیې کومندان کرک ته ګوته ونیوله او ویې پوښتل:

- دا کرک د چا دی ؟

هیچا ځواب ورنه کړ .کومندان بیا ږغ کړ:

دا کرک د چا دی؟

د سماوار له پایه یوه تن په بې پروایې سره ناری کړه:

دا زما ده زیاته !

کومندان په لوړ ږغ وویل:

- خبر نه یې چې کرکان بند دی ؟ !

- صایب زه یې پاس لرم زیاته !

- څنکه یې پاس لری؟

د سماوار له پایه یوه سیلاوه راوغوځوله شوه ورسره ږغ سو:

- دغه دی پاس یې زیاته !

زاړه کومندان نوی کومندان ته وویل:

یو یې دا دی: مهتاب الدین آغا نومیږی !

بیا د سالو خان چمن خوا ته ولاړل هلته یو ځوان د چرسو په څکولو اخته وو .

کومندان هغه ته ورنژدی شو او ورو یې ورته وویل:

-خبر نه یې چې حکومت چرس بند کړی دی ؟

- خبر یم زیاته مو ستره په دی پای کې « دا یې تکیه کلام وو»

- نو ولی چرس څکوی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله صایب دا فقیری بوټی دی موسترۍ په دی پای کي.
کومندان اولدار ته رغ کړل:
هلکه هغه کومندانی ته بوځه!
په کومنداني کي یې هغه په یوه زاړه میز پریستی او شپز سوه لښتی یې پر ملا او پښو وواهه خو د ځوان له خولې اخ هم ونه وت.
اولدار ستړی شو، د نوی کومندان وار شو،نوی کومندان هم په ډیرو وهلو ستړی شو او حیران پاته شو چي دا څنګه انسان دی ؟!
په هم دی چرتونو کي پر څوکۍ کیناست او د چایو پیاله یې خولې ته پورته کړه. ځوان سر راپورته کړ او نوی کومندان ته یې وویل:
- کومندان صایب نور څوک نه شته چي ملا راوګروی؟
نوی کومندان ورو زاړه کومندان ته وویل:
یو یې دا دی بنګ، پایلوچ بنګ حبیب الله!
نوی کومندان مخ د بنګ خواته کړ او ویې ویل:
ځه زمریه! زما په کومنداني کي هر څه چي کوې کوه یې ازاد یې!
بنګ له زاړه میز څخه پورته شو لمن یې کښته کړه سیلاوه یې تر ملا وتړله پټو یې د تل په شان له یوه کنجه راکش او ایله څوکه یې تر اوږې ورسوله او په داسې حال کي چي پټو یې ورپسی څکېده او شمله یې مځکې ته رسیده کوږ کوږ روان شو. د تلو په وخت کي یې زاړه میز ته یو وار بیا وکتل سر یې وښوراوه او په بریتو کي یې وخندل لکه اوس»

.....د کباب بوی د ناستو خلکو سږمې وتخنولې، خو کپه نظر ماد او غوثو په خبرو اخته وه له پښې یې د کباب بوی پورته کیده او جز جز ځاځکی ځاځکی یوه یوه اوښکه ترې څڅیده څوک دی چي سکروټه د نظرماد له پښې لیری کړی؟ او څوک دا جورت لری چي ورته ووایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سکروټې لاندې یوه تنکه پیدا شوه د تنکې سترګه کرار کرار لویده تا به ویل غواړي دا ټول شوی نامیان یو ځای وګوري خو د لیدو تاب یې رانه وړ او وچوله او سکروټه یې لیرې وغورځوله.
له شاو خوا څخه د میلې د خلکو او نیمچه ځوانانو چې په درختو کې ناست او لیرې ولاړ وه د دوی سیل یې کاوه بې اختیاره نارې پورته شوې:
د مور شیدې دې شه !
دا نارې ټولو واوریدې او خوند یې ورکړ خو په ملک یې خولې را ماتې کړې.
د احمد اخند زاده تنده په دې کار هم ماته نه شوه ولاړ شو له جیب څخه یې د نسوارو کڅوړ راویستی، یوه خوله نسوار یې خولې ته واچوله د سماوار خواته ولاړ، کمیس یې وایست ، او جوش سماوار یې چې همداسې خوټیده پورته کړ او په خپله راسته وربه یې خالی کړ د بدن وښنتان او پوستکی یې له اوبو سره توی شول او دود یې له بدنه پورته شو .بیرته یې کمیس واغوست ، د نسوار یې تو او ببله دی چې څه وو ایې پر خپل ځای کیناست.
-دا د نامی زوی بیا ګوره !
د مور شیدې !
واه واه نامی !
نارې او چیغې بیا اسمان ته پورته شوې، عجبه فضا وه، ټوله چوپ وه، د چا چا ستر ګې له تعجبه راوتلې وې، ځوک ځوک هښ پښ پاتی وه ،چا لاګوته په خوله کې نیولی وه، د چا چا زړونه په یخ شول ،د چاچا بیا زړونه وچول.
لکه چې د بنګ تنده په دې هم ماته او زړه یې یخ نه شو. د ملک د تندې د خولو او د دادو چغال چې چم یې د زمریانو کاوه خو خر بې غیرته وو او ځان یې پایلوچ باله او د پایلوچانو نوم ته یو داغ وو ، په لیدو یې زړه نور هم جوش وکړ او ولاړ شو.
ټول حیران ول چې دی بیا څه کوي ؟
بنګ ولاړ سو خپل اوږد کمیس یې ویستلو ، د تاوتاو شوی د یو تان پر توک یې چې د پرتوګانښ پر ځای یې واګی وراچولی وې او سر بیره یې په نازک زنځیر هم تړلی وو مالوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو په تول بدن کي یې جوړ ځای نه لیدل کیده خو د نس د پرهار کوکونو یې چي لا تازه وه فکر شو:

«...د کاکو غلام فاروق په باغ کي د یارانو بنډار وو چي هر کال به دا بنډار د بنګ لخوا جوړیده او د پایلوچانو تر منځ به د غښتلتوب آزاده سیالۍ کیده ،دوه دوه اخته وه د سیالۍ کوم کوم ریفری او حکم نه درلود . دوی په په خپله فیصله کوله کوم یو چي به نوریې د لوبې د دوام توان نه درلود.

د سلا م دی تا ته باداره !

په ویلو به تسلیم شو.

هلته دوه په پټوانو کي سرونه پټ کړی وه او یو بل به یې د بوزی په ښکر او نیره سره وهله. تر هغو به دا لوبه کېده چي یو به بیتابه شو او سر به یې لوخ کړ نو بیا به د هغه بل تابع ګڼل کېدی، دلته بیا دوه دوه نورو کمیسونه ایستلی وه او جوش کړی هګۍ یې په بغلو کی نیولی وې د هر یوه څخه به چي هګۍ ولویده نو و هغه بل ته تسلیم شو. د دوو نورو بیا ډبرې غور ځورلې او سرونه یې ورته نیولی وه هر یو چي به سر بچ کړ نو لوبه به یې بایله او هغه بل ته به د سلام دی تا ته باداره په ویلو به تسلیم شو. دوو نورو به بیا د تبۍ لاندی اوربل کړی وو او لوخی پښې به پری ولاړ وه .

بنګ، تور قادر او شوړ غلام رسول پر چلم بنډار کوی. د تور قادر سترګې پر یو هلک چي پر خره سپور وو او ځان یې پورته پورته کاوه، غوښتل یې چي له ونې څخه زردالو وشکوی له خولې ووتل:

واه واه نانیه ځان وشلوه !

په بنګ دا خبره بده ولګېده، نو یې مخ قادر ته وروا ړاوه او ویې ویل:

دا دی بده خبره وکړه موړ هم کشران لرو زیاته موستره په دی پای کي !

خبرو تاو واخېست.

بنګ ورته وویل:

-زما هغه ورځ نه هیریږی چي زما د کریم سره جنګ و او ته د سیلاوې سره زما مرستې ته راورسېدې زیاته موستړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



قادر ورته وویل:

- زما هم انډوال یې کنه نو درسره کتلی به مې وای.

ددې لپاره چي غوسه یې سړه شي. دواړو سرونه په پټوانو کي پټ کړل او یو بل یې دومره په نیره او جوالدوز سره ووهله چي پټوان یې په وینو تک سره شول

(د کریم او بنګ د کرک پر سر شخړه شوې وه بنګ د کرک شوقي و ، کرک یې جنګ ته تیار کړی و ټوله ورځ یې هغه په لاس کي کښته پورته هاخوا دېخوا کوی چي جنګ ته تیار سی، د جنګ نه یوه ورځ مخکی یې هغه ته تر سهاره بېدار خوابی ورکړه او سهار د لمانځه وخت یې دوه ساعته خوب ته ایله کړ او بیا یې وړې تړې او له خوبه ګیچ او سر بدا له د جنګ میدان ته یووړ او د کریم له کرک سره یې جوړه کړ.

میدان د کرک بازانو خورا ګردې شوی وو له هرې خوا نارې پورته کېدې:

- ایله یې که !

-لاسه مه وروړه !

- دېخوا ته یې که !

-مابین ته یې که !

- بنګ یې وهی !

-کریم یې وهی !

- کریم یې وهی !

.شاباش په سترګه یې واهه !

. له سر یې ټینګ ونیسه د نامې زو !

د شرط تړونکو بیا نارې وې:

-ځلور په یوه !

-درې په درې !

.......

د بنګ کرک چي د بې خوبیه ګیچ و ، یوه موښکه یې د کریم د کرک په سترګه ولګېده او چي دویمه مښوکه یې غورځوله د کریم کرک په تښتېدو شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم د خپل بګېل کرک سر په دوو ګوتو له تنې جلا کړ او خالی کڅوړه یې پر مځکه وویشتله. بنګ ته یې بد بد وکتل او پر مځکه یې تو کړل بنګ ورسره کله کله شو او کرار یې ورته وویل:

- ماښام به د غرېندوکي بابا زیارت کي سره ګورو !

پاته مو ستړه په دې پای کي

کریم ورته وویل:

- سمه ده زیاته بزاتره !

ماښام چي بنګ د غرېندوکي با با زیارت ته ورغی د کریم تر شا څو اندیوالان ولاړ وه، خو تور قادر هغوی لېدلی وه نو سیلاوه په لاس د بنګ مرستې ته راورسید، د کریم اندیوالان تر شا شول.

بنګ ږغ وکړ:

- وار کوه زیاته مو ستړه...

کریم ورته وویل:

وار ستا دی زیاته بزاتره !

بنګ په غوسه ورته وویل:

- پوهیږی زیاته مو ستړه په دی پای کي !

- زه چغال نه یم چي اول وار وکم خرنا ځوانه وار کوه !

کریم په خپله شپړه د بنګ نس ورڅیری کی، د بنګ کولمی لاندی توی شوی بنګ خپله سیلاوه د کریم په سینه کي ورښخه کړه، او هغه د اخ په ویلو پر مځکه ولوید. بنګ خپلي کولمې بیرته په نس ننه ایستلې، ملا یې ټینګه وتړله او کور ته د قادر په مرسته ولاړ بنګ له چورته راووت»

بنګ پر مخی پریوت او د ملک نوکرانو ته یې چي چرس یې پخول وویل:

-راشی زما پر شا چرس پاخه کی !

د بنګ پر شا بلکه جوړه شوه او د چرسو پخول پیل شول، هر وار به سیر- دوسیره تلی تاوېده تر هغه چي چرس وچیدل د بنګ پر شا اور بل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکانو، ځوانانو او نورو چې دوی یې لېدل او ځارل په رډو رډو سترګو یو بل ته کتله، یو وار بیا:

- د مور شیدی بنګه !

- نامی د نامیانو یې !

- د هغه مور...... چې تا نه منی !

زوږ او شور پورته شو او هغه وخت اوج ته ورسید، چې چرس پاخه شول او بنګ وداریدی خپله لمن یې ایله کړه او خپل پر ځای کیناست داسې ارام کیناست تا به ویل چې هیڅ نه دی شوی.ملک او نوکرانو یې ډېر کوشښ شوی وه.په دې وخت کی چلم سر شو خو دا بل ډول چلم و، یو کش یې ښه ځوانان له پښو غورځوله او همدا علت و چې د ملک نوکرانو یوه یوه ځان ایسته او څوک چې پاتی وه هغوی مازی خوله پر ایښوله، او کوم یوه به چې دود کش کی، بیا به په ټوخه ټوخه شوه دا ټوخی به د موسیقی ښه ونیوله،

یو ساعت کې یوه سر خانه پوچه نه شوه نو استاد عبدالرزاق خیاط ته دی وضعی چندان خوند ورنه کړ، چلم ته ورولاړ شو د چلم سر خانه یې تازه کړه او په چپه سږمه یې له چلم د زړه نه د اخلاصه قورونه ویستل، دې قورونو مېلمنو ته څه ان چلم ته یې لا خوند ورکړ او سر خانه یې په همدا یو وار پوچه کړه.

بیا د هری لوری:

- د واه واه استاذه !

- د مور شیدی.... !

ږغونه پورته شول.

ملک چې نفرو یې خانه ور خامه کړی وه یو ناست ځوان ته اشاره وکړه، ځوان له نسوارو د ډبلی نه یو وچ شوی لړم راویست او پر چلم یې د چرسو پر ځای کیښود.بنګ چې تر اوسه یې دوې سرخانې په یوازې سر پوچې کړی وې، دی کار چندان خوند ورنه کړ، بد پرې ولګید، نو وار یې در مخه کړ چلم ته ورغی او په دو کشه یې سر خانه پوچه کړه،ځکه هغه په ځان کې دا تاب لېده او نه یې غوښتل نور نامیان شرمنده یا لېونی کړی.

هوا او فضا مېله ځی ته بل شکل ورکړی وو هربخواته دوه- درې پراته وه. ټوخه ،ټوخه....

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی وخت کي د رابلل شوی سندر غاړی ږغ پورته شو:

غښتلی خللک په هر چا باندی ډیر گران دی
دا ټوله ښکه په خپل حال کي شنه زمریان دی
د خاکریز شاه آغا ننگومه
د ده درو درگا ننگومه
په مزار کي یې نغارې دی
په دربار کي شنی منارې دی
سلطان عطا بابا د پیرانو خلیفه دی
مزار د شا غنډان بابا عجبه ښایسته دی
پر څوکه پروت دی تختی شا مبارک
لوړ سید اولیا ننگومه
د خاکریز شا آغا ننگومه
بگت بابا ملازلی دی
بل شنغزی او ازرجی دی
قریش هم هغه شین کوځی دی
خوجک بابا او ملا دوران ننگومه
لوړ سید اولیا ننگومه
د خاکریز شا آغا ننگومه
بابا ولی صاحب خوشال دی
دده نه چي تیر شی پیرپایمال دی
بل نازولی د رب سید اسلم د پنجوایي دی
فریح الدین اخوندزاده قطب زمان ننگومه
موی مبارک او خرقه د خیر الانام ننگومه
لوړ اولیا ننگومه
د خاکریز شا آغا ننگومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



......

په دی وخت کي یو تن راغی د بنګ په غوږ کي وبونګېده. بنګ پټو له یوه کونجه ونیوی ولاړ شو او ویي ویل:
یارانو د خدای په امان زیاته... مو ستړه په دی پای کي !
او کوږ کوږ رهی شو.
بنګ ته د کومندانی لخوا د هدیرو د ناجوګانو د ساتنې دنده ورکړ شوی وه خو مازیګری بنډارونه هلته کېده نو ځکه غنی خان نایب الحکومه دی غوښتی وو. غنی خان نایب الحکومه د مشرانو او نورو لوړ رتبه مامورینو سره ناست وو . بنګ کوږ کوږ چي په یو لاس کي یې له عادت له مخی د کمیس لمن ګونځې ګونځې نیولی وه بل لاس یې لکه اولدار ښوروی پله کش د مجلس کوټې ته ورننوت ،اوهلته یې له یوه تن نه یې چی دروازی ته نژدی ناست وو ویپوښتل:
- دا نایب صایب بیا کوم یو دی ؟
هغه نایب الحکومه ته ګوته ونیوله. بنګ د نایب الحکومه مخی ته ودرید او ویې ویل:
زه تا راغوښتی یم زیاته مو ستړ په دی پای کي !
نایب الحکومه چي یوازی په دی پوه شو چي تا راغوښتی یم، نو نایب الحکومه د امنیی کومندان ته وکتل:
د امنیی کومندان ولاړ شو او ویې ویل:
صایب دا بنګ حبیب الله دی بنګ حبیب الله.
غنی خان بنګ سر تر پایه تر نظر تیر کړ او ویې ویل:
ما په اسمان غوښتی او ته خدا پر مځکه په لاس راکړی، ټول ستا نه شکایت کوی.
بنګ ورته وویل:
-خبر یاست ټول مشران اعلیحضرت ته ستا نه په شکایت تللی دی
د نایب الحکومه رنګ لږ ژیر شو او ویې ویل:
- دا درواغ دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګ ورته وویل:
دا ستا هغې هم دروا غ دی !
غنی خان امر وکړ:
-لښتې راوړی !
بنګ هم بېله دې چې څه ووایي
خپل پټو یې اوار کړ سدری یې ویستله او پوړ مخی پریوت.
نایب الحکومه ورته وویل:
- اقلاً یو ښتنه خو وکړه چې ولی دی واهم !
بنګ وویل:
-زه د وهلو وروسته بیا پوښتنه کوم....په دی پای کې !
نایب الحکومه ته د ده حاضر جوابی خورا خوند ورکړ ودرید او بنګ یې پر شا وټکوی او د مجلس خلکو ته یې وویل:
- کنداریان واقعاً باتوران دی !
بنګ د کور خوا ته رهی وو په جاده کې د ماله جات او ښکارپور بازار د ځوانانو تر منځ د ډرونه خط لوبه روانه وه په دې شرط چې هر چا که یو وړه بایللی ډله به یې پر چیچو غاړو تر چارسو پوری وړی
لوبه ډیره توده او ضدی شوی وه دواړو خوا او پټوان تاو کړی وه چا لا په پټو وانو کې ډېرې اچولی وې او یو نیم لا زنځیران په لاس کې نیولی وه هر یو به چې رامخکی شو په یوه وار به یې په سترګو توره شپه شوه او د اخ، وای په ویلو به بیرته دایری ته ننوتل.
هیڅ یو مخی ته نشوای ورتلای ټول هک پک او حیران پاته وه چې څه وکړی په دی وخت کې د یوه سترګې پر بنګ ولګېدی ورغی او هغه یې میدان ته راوستی د هلکانو زاریو اړیست چې میدان ته ننوځی.
بنګ پښه پر خط کېښودله او په بله پښه یې د حریفانو پښې تعقیبولی د زنځیرونو او پټوانو وارونه یو د بل پسې کېدله، خو بنګ ښور هم نه خوړی تا به ویل دا وارونه پر ده نه د پروړو پر ګونۍ مښلی پر حریفانو له ډیری وارختایی خولې راماتی وې. یو ځوان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنځیرونه یې په لاس او پر ځان ډاډه وو لړ ورنږدی شو سوچ یې کاوه چې په یو ار به یې تر شا کړی لړ مخی ته ورغی بنګ چې هغه تر سترګو لاندی څاری په یوه ټوپ سره یې پښه وروړسوله او میدان یې وګاټه.
شور ماشور جوړ شو هلکانو له ډیری خوشالی خپل پټوان پورته پورته غورځوله وړونکی ډله د حریفانو په چیچو غاړو کښیناستله او د شا بازار خواته رهی شول یو تن چې د د حریف پر چیچو غاړه سپور وو د خپل حریف سترګی پوټی کړی او بل د لاس ګوتی ورته ونیولی او و به یې پوښتل:
-ارغونچکی بر غونچکی یو تار دوه یې غونچکی سلا په سلا اور بګو چند ؟
هغه به له ځانه ځواب ورکړ:
-سه
یو وار په ټولو په یوه ږغ ناری کړه:
غلط بګو چهار !
د کورس به شان به دا آرغونچکی بګو چند.... د نارو او شور سره تکرار بدل و خرقی شریفی مخی ته د تیرېدو سره بنګ مخ و خرقی شریفی خواته کړ او یو عسکری سلام یې وکړ. چار سو ته لا نه ورسیدلی چې یو نیمچه ځوان د توپنچی دوه تکه وکړه.
دا لومړی وار وو چې په عادی خلکو کې توپنچه پیدا شوه هلک توپنچه په ګنډه ووهله د چارسو په پوشلی بازار ننوت.
۱-شپړه: غټه او پلنه ګردی د موچیانو برنده ده چې د لرګو لاستی لری.
۲-خردوم: د سرپوغټی(ګلوله ) چې د ځرمنی لاستی لری.
۳-د یخی کولنګ: کوشنی کولنګ دی د یخي ماتولو لپاره.
۴-د بزی ښکر:د بزی وچ ښکر دی چې تیز او نری شوی وی او منځ یې د سرپو ډک شوی وی.
۵-سیر: د کابل یو خوردیا ( ۱۱۰ ګرامه ) کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غرغره

پر خره سپور چارچي چي سپين خيرن كالي يې اغوستي او په خرېيل شوى ككرۍ يې دوه تاره د خاصې لنګوټه تړلې وه ، نغاره ډنګوله
د كوشنيانو شورماشو كې ، د شا باراز خواته روان وو . د نغارې د يوې لارې وروسته به يې له خره نه ځان لږ پورته كړ په ناست ږغ يې لكه هغه سندرغاړى چي ټوله شپه يې غزلي ويلې وى ويل:
-خبر اوسئ ! خبر اوسئ !
د راز او باز نه يې داسې ښكاريده چي ملا يې كړوپه وي ، د غاړې رګونه به يې د جار په وخت كې وپړسېدل داسې مالومېدل چي په زوره يې له ستوني را باسي يا څوک يې خپه كوي.
بيا به يې يوه لاره نغاره وډنګوله، له خره نه به لږ پورته شو او نارې به يې كړل:
- خبر اوسئ ! خبر اوسئ !
د پرنګيانو جاسوس...
د كوشنيانو له شورماشور نه جار ښه نه اورېده كېده نو ځينو به يو له بله پوښتل:
-څه خبره ده؟
او څوک څوک به لا د دې ډلې پسې شول چي په خپل غوږ يې واورى چي خبره څه ده. او بيا به د چارسو خواته رهى شول.خلک جوپه جوپه د چارسو خواته رهى وه هلته يو دار جوړ شوى وو د دار لاندى يو ځوان چي تر اوسه يې ږيره نه وه خرېيلې او بريتونه يې نوى خت وهلى وه پښې او لاسونه يې ولچک او زولانه وه پر لمانځه ولاړ وو .كله چي له لمانځه فارغ شو په پټه خوله يې خاوره مچ كړه او د دار خوا ته ولاړ د دار پړۍ يې خپلى غاړى ته واچوى او چورت كي لاهو شو:
«...تورجان د پرنګيانو كونسولى ته غوښتل شوى وو به سوچونو او انديښنو كې ډوب وو چي پيره دار كوټې ته را وګرځېد او تور جان ته يې اشاره وكړه چي د ده پسې ورشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورجان چي د څوکۍ ناستي ستړي کړی وو په یو او بل انډی کېدی، د یوې اوږدي ارمی وروسته یې خپل دواړه لاسونه او اوږې پورته کړې او د پیره دار پسې رهی شو او بلی کوټې ته ننوت. هلته یو ډنگر، جگ سړی چي په خپله ژیړه ږیره کي یې گوتې وهلې او شنې شنې سترگې یې لکه کوکۍ بربښیدې د میز شاته ناست او سترگې یې نېغی وره ته نیولی وې د تور جان په لېدو له ځایه جگ شو او ښه راغلاست یې ورته ووایه.

تور جان نه پوهېده د څه لپاره غوښتل شوی دی لږ شانته وارختا غوندی وو او رېږدېدی. څلوری خواوی یې ژر ژر په ځیر ځیر سره له نظره تیری کړې.

پر میز باندی یوه خړه شپوخولۍ، څو قلمونه، یوه زنگ لرونکی ساعت، مشوانۍ، څو کتابونه او پاڼې یو بیرغ، یوه گردی نخشه او څه اوڅکې( کشمیش) په یوه قاب کې پراته وه.

دمیز لاندی یوه ټوټه غالۍ اواره وه. یوه الماری او څو همدوله څوکۍ گرد چارپیره ایښودل شوی وې. ،پر دیوال باندي د یوې ښځې انځور ځوړند وو.

ناست سړي چي په پښتو یې خبرې کولای شوې خپل پېپ ولگاوه. او دود یې پوکړ، تشه پیاله یې د هغه چاینکې نه چي د میز لاندی پراته وه او نه ښکارېده ډکه کړه او د تور جان مخی ته یې کېښودله ،بیا یې تور جان ته وکتل او موسکی شو. د الماری خواته ولاړ ، څو کاغذونه او د لوټو یوه بنچه یې په داسې حال کې چي په لاسو کې یې مروړلې د تور جان مخي ته کېښودل او به بند بند ږغ یې لکه کوشنی چي نوی په خبرو راغلی وی وویل:

د بابا تنخواه دی !

تورجان چي تر اوسه پورته کتل د دې خبروپه اورېدو یې سر کښته شو ژامې یې وربږدېدلې په مغزو کي یې زوروره غوغا جوړه شوه شاوخوا یې په وارختایي سره وکتل ، رنگ یې تک ژېړ واوښت ، سترگې یې له کوگله راووتی ،د بدن وېښتان یې ودرېدل ، د خولو سیلاب پر رامات شو.

ستونۍ یې وچ وچ کېدی غوښتل یې د چایو پیاله پورته کړی او یو غړوپ ترې وکړی، سترگې یې پورته کړې د دیوال ځوړند انځور چې لکه د کونسول سترگې شنی وې وکتل د انځورنه یې سترگې وشرمېدی لاس یې د پیالې نه ببرته کړ او همداسې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوچونو کې ډوب شو او فکر یې کاوه خوب وینی خو د جګ سړی خبرویې د سوچونو مزی وشلولې چې یې ویل:
-پلار دی مامکو یادوم، ډیر مسلمان، په هیواد مین او نیک سړی وو ، خدای دی هغه وبښی ! ښه تاویزونه یې ورکول.
او په لږ جدی توګه یې زیاته کړه:
- ما خپل زوی مایکل لپاره د نظر تاویز ځینی اخیستی وو.... !
د پرنګې د ښه مسلمان، هیواد دوست او نیک سړی ملنډو ، ستغی سپوری او سپک ، ښکنځل ورته ښکاره شول ، داسې یې ننګرل چې ځوړند انځور پرې خاندی د بهر نه یې هم د خندا ږغونه اوریدل.
فکر یې کاوه ټول کلی او دښار خلک پر خاندی، سور او سپین کیده د خندا او پیغور ږغونه یې په غوږو کې انګازې کولې نو په دواړو غوږو یې لاسونه ټینګ ونیول لکه لیونی له ځایه وغورځیدی غوښتل یې دا جګ سړی خپه کړی...
جګ سړی چې ډاډه ابسیده د یو زوړ کتاب څو پاڼې یې هاخوا دې خوا کړی او د تور جان مخی ته یې کیښود او په ټیټ ږغ یې وویل:
-دا دی د پلار ګوته او دا یې هم لاسلیک !
بیا لږ موسکی شو او ویې ویل:
- د هغه تنخوا سل روپی وه ستا هغی پنځه سوه ده !
د تور جان بدن د لاسلیک په لیدو سره سوست او بند بند یې درد واخیست د زړه درزایې زیاته او سترګې یې تنګې شوې. تور جان سوچ کاوه چې سره سره سبخونه یې اندامونه سوځی ، دډیری غوسې یې شونډې په غاښو چیچلې غوږونه یې ډپ وه، څه یې نه اوریده په خولو کې لوند خیښت وو سا یې لنډه لنډه کیده مغزو یې چیغې وهلې
زما پلار د پرنګیانو تنخواه اخیستله؟ !؟؟
نه ،نه هغه نه اخیستله !
په داسې حال کې چې لونګۍ یې په غاړه کې لویدلې وه لکه د سلو کالو ناروغ له کونسولی نه ووت او د غره خواته یې مخه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو کټ کټ خندا او یې په غوږونو کې انګازې کولې، هغو یو بل ته ښودی:
هغه دی هغه دی د مامکو زوی هغه دی... ودرید ، ښه پام یې وکړ خو د خلکو خولې پوټې
وې هر یو په خپل کار او بار اخته وو.مغرور تورجان هغه تور جان نه وو لکه جوارګر چې
ټوله شته یې بایللي وي سترې ستو مانه مالومېدی.را وګرځېد او د ښار خوا ته رهی
شو خو په مغزو کې یې انګازې وې:زما پلار د انګریزانو تنخواه اخېستله؟.د پلار خبرې،
لمونځونه. تاویزونه او حجونه ؟؟؟؟ شیطان رنګارنګ چورتونه په زړه کې ورګرځول(
...راځه ته یې هم واخله ! پلار دی دا کار کوی چې تر ما په زر واری متقی وو... ) نه. نه دا کار
نه کوم !
لکه سودایي له ځان سره بونګېدی، سترګې یې د اوښکو له زوره نمجنې او تکې سرې
شوې وې په ښار کې دېخوا هاخوا لکه لېونی ګرځېدی را ګرځېدی مځکې ارام نه ورکاوه..
د کور او دوستانو نه یې ناټ مات شوی وو نه پوهېده څه وکړي؟
د کوره وتښتي؟
ځان مړ کړي؟....؟
ناڅاپه یې سترګې پر حاجی بابا ولګېدلې، حاجی بابا یې د پلار اندېوال و هغه ډېر جهان
دیده او نیک سړی و ، دوه واری په پښو حج ته تللی وو په برو باراز کې یې پر یوه لرګینه
تخت چینی لوښی پلورل تورجان یو اند ودرید ،یوه خوله نسوار یې خولې ته واچوله
اعصاب یې ارام او ځان یې کنترول کې بیا نو د حاجی بابا خوا ته کرار کرار رهی شو له
سلام وروسته یې د حاجی بابا لاسونه مچ کړه او په اسکېرلی ږغ یې په داسې حال کې چې
تړمی تړمی اوښکې یې له سترګو بهېدې وویل:
- حاجی بابا سلا راکه !
ژړا نه پرېښود چې څه وواییښه ډېرېې وژړل د اوښکو به تویېدو یې د اوږو بار سپک شو ،
نو بیا یې ټوله کیسه و حاجی بابا ته وکړه: حاجی بابا هم لکه لېونی غوندی شو له ځایه
جګ شو:
- دا دروا غ دی !
- نه،نه دا درواغ دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



چغې یې وهلې.
د شاوخوا خلکو په وارختایي حاجی بابا ته وکتل حاجی بابا ژر لکه چې یو شی یې به یاد شوی وی بېرته پرخپل ځای کیناست. سر یې په زنګنو کېښود او په سوچونو کې ډوب شو لږ شیبه وروسته یې سر را پورته کړ او تور جان ته یې وویل:
- ستا د پلار هر څه ما ته مالوم دی خو !
- خو څه !
خو یوه ورځ زه، ستا پلار دی خدای وبښی د بادامو په سرای کې ولاړ وو چې غلام ماد کاکو راغی او ویل یې چې د پرنګیانو کونسولی هغه خلکو ته چې په ډکه کاسه یې خوړلی وی او د سرلوړی ژوند یې تیر کړی وی، د سقاو په اړو دوړ کې یې خپل شته له لاسه ورکړی وی او چا ته لاس نه شوی غځولای څه پیسی بېله کومی مدعا هره میاشت لکه تنخواه ورکوی. ما ورسره ونه منله خو مامک ویل:
- دا مفتی پیسې دی موږ اوس ازاد ی اخیستی ده
دا وو هغه مکر چې زه اوس پرې پوه شوم تور جان چې د حاجی بابا خبرو ته غوږ نیولی وو و پوښتل: دا نو څنګه؟
- زویه ! هغو رښتیا دا پیسې بېله مدعا ورکولې او د پیسو د تسلیمی لپاره یې لاسلیک او د ګوتې نښان غوښت زموږ سپین ږیری چې محتاج وو کار یې نه را نه اخېست چې موږ مړه شو بیا مو اولادونه راغواړی او هغو ته وایې راشی د پلار تنخواه مو واخلی. اولادونه یې چې د خپل دینداره پلار لاسلیک او د ګوتې نښانووینی بیا ځان ترې قربانوی...
د تور جان په شونډو کې خندا را پیدا شوه د تندی ماتې شوی خولې یې د لونګۍ په شمله پاکې کړې او په داسې حال کې چې اوږې یې پورته غورځولې ورو وویل:- زه تلم د پلار قبر می ورانوی او یا مې د هغه تنخواه اخېستله او ښه شو چې پوه شوم
حاجی بابا وویل: تورجانه زویه ! اوس چې د دې کیسې په راز پوه شوی نو چاره یې ستا په لاس ده د تور جان وینه وایشیدله په هډوکو کې یې قوت ننوت ، ځان یې دروند حس کړ د ښه دینپالی او هیواد مینی کورنی غړی وو او تللی غرور یې بیرته راستون شو. له ځایه ولاړ شو او سیده د کونسولی خواته ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ګړی وروسته په داسې حال کې چې شخه لونګی۔ یې تړلی وه د کونسول له کوټې نه راووت او په لوړ ږغ یې ویل:

-سر دی چټ سر دی لیلام شه پرنګیه !

لاس دی تر لندنه خلاص !

د شپې بیا کومندانی ،اولداران او ولچک زولانی او دار.

... دا ټوله داسې ژر پېښ شول چې پوه لا نه شو

د کازی خبرو دی له دی سوچونو راویستی

د کازی په لاس ښورولو سره تور جان دار ته پورته شو او د سا په غرغړ کې یې کینه پښه یوه جټکه وخوړله او موچنه یې لس- دولس ګزه هاخوا ولوېدله.

را ټول شوی خلک په پټه خوله خپلو کارونو ته رهی شول خو ځېنو ناړی باندی ټوکړی او ځېنو بیا په بدو رد ویلو خپله هیوادپالنه ثرګندوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه لپه خاوره

بوډۍ چې مخ یې لمر او دوړو توربخن کړی وو په کړوپه ملا او رېږدېدلو پښو د کوچنوټی اومید سره په وچه دښته کې پر مخې روانه وه سا یې لنډه لنډه کېده داسې ښکارېده چې د پلو کوشنۍ غوټې ستومانه کړې وي، خو دې په ستومانتیا فکر نه کاوه یوازې یې د لارې په لنډولو باندې سوچ کاوه، هغې د خپلې نږور سره ژمنه کړې وه چې سبا ته به بیرته راځی ځکه دا یې د کور مشره او نارینه وه.

وار وار به د کوچنوټی اومید په سترګو کې اوښکې راښکاره شوې؛ ستونی به یې له ژړا ډک شو؛ شونډې به یې بوخې بوخې شوې او زړه به یې غوښته چې چغې ووهی خو ورپه یاد به شوه چې د راتګ په وخت کې یې د آنا سره وعده کړې وه:

زه نه ژاړم ما له ځان سره بوځه.

سره له دې یې هم یوه یوه اوښکه په باړخو رالوېده ، خو ژر به یې د لاس په شا پاکه کړه چې انا یې ونه ویني

...بوډۍ په خپلو فکرونو کې ډوبه وه زړه یې ډک وو ، کله کله یې غوښتله چې په دښته کې خپل سر لوخ کړې پر سر خاورې وښندی او خپل وېښتان وشکوی...

خو ځان به یې ټینګ کړ، غوښتل یې څه ووایې خو شونډان یې سره نښتي وه ، او په زړه کې به یې ویل:

دا به د خدای رضا وه !

له ډیره مزله وروسته ویش( سرحد ) راورسېده ِ غوښتل یې په پټه تیره شی خو یو چاغ ملیشه چې غټه خېټه یې درلوده اوپه ګڼو تورو تاو شوې بریتو یې لاس تیر او بوډۍ ته په زیږ ږغ وویل:

- څه دی پوټ کړی دی آ...؟

بوډۍ څه وارختا غوندې شوه په داسې حال کې چې ترخه موسکا یې پر شونډو وه د سر په اشاره ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه شی نه دی !
خو ملیشه کله په دې راضی کېده په زوره یې د ادې د پلو غوټه پرانیستله او په کتو یې
داسې وخندل چې بریتونه ان تول صورت یې وښورېدی.
ملیشه نورو اندیوالانو ته رږغ کړه:
- هله دلته راشی بوډۍ څه شی را وړی دی !
څلور پنځه تنه پر بوډۍ را تول شول د پرانېستل شوی غوټې په لېدو کټ کټ په خندا شول.
د بوډۍ زړه لا نور هم له ګرومه ډک شو
... لمر په ډوبېدو وو چې بوډۍ او کوچنوټی اومید یوې لوی هدیرې ته ورسیده او دواړو
دېخوا هاخوا په لټه پیل وکړ داسې ښکارېده چې کوم شی یې په هدیره کی ورک کړی وی
بوډۍ په داسې حال کې چې له ځانه سره بونګېده کوشنی اومید ته یې اشاره وکړه :
چیری دی؟
بوډۍ لکه لېونۍ له ځانه سره بونګیده او ویل یې:
دا څومره ډیر شوی دی !
په دې وخت کی اومید نا ببره رږغ کړه :
آنا دا دی پیدا می کړ !
او له دی سره سم دا رږغ د هدیرې په براو کوز کې ډیر ژر ترېتم او ورک شو.
بوډۍ او اومید د یوه قبر سره کېناستله او د کرۍ ورځې ستړیا یې هم هلته هیره کړه.
بوډۍ په داسې حال کې چې یې شونډې پاکولې او د اوښکو ډکې سترګې یې اسمان ته
ونیولې او خړې پرې شونډې یې بې رږغه ښورولی، او بیا
یې خپل ریږدیدلې لاسونه پر مخ تیر کړه
او په اسکیرلې رږغ یې د قبر سره مرکه پیل کړه:
زویه ! راغلم ستا ارمان می پوره کړ
اومید په داسې حال کې چې د ویرجنې او غلی ژړا سلګۍ یې اوریدل کیدې او یوه نیمه
اوښکه یې په قبر لویده د قبر توی شوی ډبرې یې بیرته اوډلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوره هوا تیاره شوې وه بودۍ ورو د پلو غوټه پرانیستله او د هغه څخه یې یو لپه خاوره د قبر شاوخوا وشیندله

دا ده د وطن خاوره دی !

دا ده د وطن... !

زویه تا به تل ویل :زه خپل وطن ته ځم خپل کور ته ځم...

او که دلته مړ شوم نو د وطن خاوره را باندې وښندئ چې بیرته ژوندی شم

د بوډۍ له سترګو څو څاڅکی اوښکې پرله پسې په قبرتوی شوی او داسې ورته ایسیده چې د خاورو وږمه په ټوله هدیره کې په خپریدو ده

قبرونه به ښوریدو شول د یوه یوه نه ږغ په را پورته کیدو شو:

ادې !

مادر !

آپه !

دا ږغونه وار په وار ډیریدل او په ټوله هدیره کي پیچل کیدله او ازانګی یې کولې، دوړه او توپان و رسره پیل شو:

ادې ادې ادې.....

مادر مادر مادر....

آپه آپه آپه.....

داسې ښکاریده چې قبرونه یو د بل پسې چوی او مړي یو د بل پسې را ژوندي کیږي؟ !

بودۍ په توره تیاره هدیره کي د دوړو ، زلزلې او توپان په منځ کي کړپه ملا او لوڅ سر په داسې حال کي چې سترګې یې پوټي کړې وې او کوشنی اومید یې پر سینه ټینګ نیولی وو هکه پکه او حیرانه ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کور هدیره

زړه ګاډی چې د آس غوږونه یې نور د راکښونو ږغونه ته بې تفاوته شوی وه به سکنی ماښام د ښارخواته تله. د درنو وسلو ډزی کېدې.
هغه په عمرپوخ سړی چې ګاډی کې سپور وو څه پرېښانه ښکارېده.
ښار کې څه نه لېده کېده ، یوازې د سړک په یوه ګوټ او بل ګرځنی کې د ریګو د ګونیو له منځ نه د ټوپکو میلې مالومېدی. د پسرلی دوېمه شپه وه، د څلورو ورځو راهیسې په ښار کې د ورځی له خوا د د رنو وسلو زرونه ډزې کېدې د ورځی به خلک په کورونو کې وه اود شپې چې به ډزي څه لږ شوی نو د ارلیکینوتتې ړنا ته به د ورځې مړي ښخول.
دوې شپې مخ کې کله چې لسو - دولسو تنو په هدیره کې د خپل دوست ټوټه شوی بدن سره وروستی خدای په امانی کوله او په هغه یې خاورې اړولې د یو بل راکټ په لوېدو سره اته نور هم د هغه سره یو ځای شول.
...ښاپېری د تناره ځنګ ته ناسته او ډوډی یې پخول وړ ماشوم یې چې پسرلی نومېد د پلار په غېږ کې پروت و ښاپېری خپل میړه جمدر ته ږغ کړل:
اوسړیه !
هلک هلته پټاوی ته پر نغاړکی پرېباسه او څه خس راوړه !
ښه !
او یو غړپ شواو دا غړپ لکه تالنده په غرونو کي سره وپېچیدی او بیا یو شېبه چوپه چوپتیا خپره شوه.
له ښاپېری نه میړه او زوی دواړه په دوړو او لوخړو کي فنا شول.
ښاپېری یو اند کیچه وه او غوږونه یې ډپ وو چې په خود شوه سترګې یې وموښلې.
یوه کرېږه یې تر غوږو شوه همداسې یې له ځایه ټوپ کړل او د (آ) خاورې مې پر سر شوی ویلو سره یې پسرلی له دوړو څخه را پورته کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم شین وو او ړغ یې په کوګل کې ایسار شوی وو یوازې کغ کغ یې له خولې خاته او ښایسته تورې خماری ماشومانه سترګې یې مرغۍ مرغۍ کېدې غو ښتل یې د مورنه خدای په امانی واخلي او هغې ته یې کتل چې څېره یې ذهن کې وسپاری...
ښاپېرۍ جمدر ته پام شو چې په خاوروکي پروت دی او د دې په لور ګوری.
ښاپېرۍ ور منډه کړه خو هغه ړد ړد خپلي ښاپېرۍ ته کتل...
یو وار به یو ته بیا به یې بل ته کتل یو وار به یې یو په غیږ کې نیوی بیا بل او به ننواتي شانته ړغ یې په زاریو زاریو ویل:
سړیه ! یو څه خو ووایه !
ګوره ! پسرلی نه ژاړی
خو جمدر یوازې ورته کتل.
ښاپېرۍ خپلو وبښتانو ته ورحمله کړه، په سر یې خاورې باد کړې، پسرلی یې له مځکې پورته کړ، هغه یې پر سینه پوری ټینګ ونیوه او د هغه په خاورولړلي مخ او لاسونه یې ښکلول. تی ته یې واچوی. خو د هغه د خولې نه یوه د وینو نرۍ لیکه ګریوانه ته راتوی شوه. هغه غوښتل ویده شی د پلار سره یو ځای ځکه هغه نور یوازې د پلار للو للو اورېده.
دښاپېرۍ لاسونه او کالی به وینو سره وه.
پسرلی یې د پلار څنګ ته پرېست. غوږ یې ونیوی د ګاونډیانو د کور نه ژړا او ساندی اورېدې کېدې.
ښاپېرۍ له ځانه سره وویل:
په خوارانو لکه چې څه ماتم دی ؟ !
غوښتل یې ورشی د هغوی په ماتم کې ونډه واخلي خو... د ددې کره هم ښځې تلې او راتلې ښاپېرۍ په خاورو کې ناسته وه او په زړه کي یې ساندی ویلې ځکه ړغ یې ټپ ولاړ وو، ستونی یې وچ او شونډان یې سره نښتی وه.
ماښام څلور - پنځه تنه د یوم او کولنګ سره د ښاپېرۍ کره راغلل ښځو ښاپېرۍ په زوره کوټې ته بوتله، هغې د خلکو پوسنیدل او بونګېدل اوریدل چې یې یو بل ته ویل:
همدغلته هدیره ورته جوړه کۍ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو ! هدیره لیری ده ژرکوی چې بیا ډزی پیل نه شی !
- ژر کوی هلکو !
ښاپېرۍ له ځانه سره وویل:
دا خلک ولې دومره وارختا دی !
بیایې غوړ ونیوی
- دا ځای پوست دی؟
بیا د یوم او کولنګ ټک او ټوک...
هغې له ځانه سره وویل:
شاباش ښه د زړه له اخلاصه کار کوی
بیا یې غوږ ونیوه
الله اکبر الله اکبر.... امین امین خدای دی وبښی
هغې له ځانه سره وویل:
لکه چې څوک مړ شوی دی !
نه ، نه، نه، دی مړ. که څوک مړ وای نو ولی څوک نه ژاړی...
کرار کرار د یوم او کولنګ ټک او ټوک د ګاونډیانو کورونه ته ولاړ
دا خوشاله شوه چې کولای شی بهر ووځی نو په منډه یې ځان د کور منځ ته ورساوه.
د کور غولۍ بل ډول ورته ښکارېده هلته د نویو قبرونو سره چوپه کینا ستله
نا څاپه یې غوږونه نېغ شول او یې ویل:
لکه چې پسرلی ژاړی؟
د ځانګو خواته چې له خاورو ډکه وه منډه کړه او د للو للو په ویلو یې د ځانګو ځنګول پیل کړل. خوژر یې پام شو چې ځانګو نه ښوری، هغه له خاورو ډکه ده.
نو په یوه هېبت سره یې د کوټې خواته منډه کړه. هغه یې هلته هم ونه موند بهر په بېړه راووتله او د انګړ خواته یې منډه کړه او د یوه قبر خوا ته کېنا ستله. د قبر پستې خاورې یې په منګولو شندلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوم شی په لټه کې وه ، ښځو هغه بهرته په کښولو کښولو کوټې ته ننیستله. ټوله شپه یې په دې سوچ چې خاوند او زوی یې چیری ولاړل؟
څه وخت راځی؟
وېښه تیره کړه.
سهار د لمانځه وخت یې په یو ډول د ګاونډی ښځو څخه ځان خلاص کړ او د وره خوا ته یې منډه کړه.
دا سې ورته ابسیده چې د کوم شی ږغ یې اورېدلی وی شا ته یې وکتل او بهرته یې سر را وګرځاوه او د قبرونو پښو ته نږدی کېناستله
لکه چې چا په چپېړه وهلې وی ورو ورو یې سلګۍ وهلې
ښځو ډیری هڅې وکړې چې هغه کوټې ته بوځی ځکه بیا د توغوندیو باران پیل کېده خو دا وار یې زور په ونه رسېده.
هغه نوره نه ویریده ، هلته خوشاله وه سر یې په زنګانه ایښی او وچې وچې سلګۍ یې واهلې
شپه ناوخته وه دا هلته ویده شوی وه
....د ګاډۍ قرچهار شو د زړې ګاډۍ نه یو پوخ سړی راکوز شو او د ښاپېرۍ کورته ننوت.
یوه زړه ښځه یې مخی ته ورغله او څه یې ورو غوږ کې ورته وویل او د سکوت په اشاره یې وپوهاوه.
پوخ سړی خپله لور د قبرونو پښو ته ویده ولېده چې خوشاله ښکارېده او له ځان سره یې خندله په خوب کې یې لیدل چې پسرلی ورته خاندی او خالپوړی کوی.
پلار یې د هغې په لېدو ونه شوکولای ځان ټینګ کړي نو د لونګۍ ټوله شمله یې خولې ته تمبه کړه چې ښاپېرۍ له خوبه ویښه نه شی او تودې اوښکې یې په ګریوانه را توی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غاو

نواب په مات او نهیلی زړه بې پروا سترې ستومانه مخ پر غره تی، غوښتل یې لېری لاړ شی ښه لېری چې یوازی دی وی او بس
له لوړی او تندې یې سترګې کښته تلی وې. بدن یې سوړ او ښه یې تکه ژیړه شوی وه. د چوټو وندې یې خلاصی ،لوڅ او ببر سر ، څیری ګریوان، په وینو ککړ مات تندی، وچو شونډو او چاودو پرې پرې شوو پښو چې د اوږده او ستومانه ونکی مزله له امله یې پوټکی اچولی وه. مخ په وړاندی ته د ځان سره یې هم دا ویل:
هر شی پای ته ورسېد !
له درد او سوز نه یې سترګې پوټې کړې یو سوړ اسویلی یې ویستله او د باڼو په پورته کولو یې د نهیلۍ ترږمی ټږمی اوښکې له سترګو په ګریوانه توی شوی
دنیا ورته تیاره ښکارېده او لمر یې په تورو وریځو پوټ لېده. په سوچونو کې ډوب وو(...
زاړه چکله موټر کې د کلی خواته روان وو. سترګې یې پوټې پوټې کېدې، روپۍ او جمال یې سترګو ته نڅاه کوله ، د هغو آغا آغا ویل یې غوږونه تخنول.
درست یو کال مخکې کمونیستی عسکرو کلی محاصره کړ ، دی یې د جلب او احضار په نامه جنګ ته بوته د قانون له مخی د ده پلار شیخ فانی وو او دی د عسکری نه معاف وو خو په چا دی منل، یو کال کېدی د هغوی نه جلا شوی وو. ایله اوس په دې وتوانېدی چې وتښتی خپل ازاد شوی کلی ته خپلې میرمنې ته ، اولادو ته ،سپین ږیری پلار او بوډۍ مور ته بیرته راشی او د وی سر پرستی وکړی....
کور ته هوسېدی، خوشاله وو چې خپل کاله ته ځی ، خپلې مځکې ته ځی خپل اولادو ته ځی.
د بس سپرلېو یو د بل سره په خبرو اترو بوخت وه د کلی او باندې خبرې د تجارت خبرې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نواب په خپله خوبونو کې ډوب وو. یو وچ غوندی سړی چې نری، دوه تاره ږیره یې درلوده او زړ درواغ یې ویل لګیا وو د کوم چا ویاړنې یې کولې چې د بس پر سپرلیو چندان ښه نه لګېدې.
بس همداسې کږلېچونه او پېچومی ، غرونه او شېلې ، دښتې او ځنګلونه یو د بل پسې شا ته پرېښودل او پر مخ روان وو.
...نابېره څو وسله والو چې تور مواونه یې وهلي وه د بس مخې ته راښکاره شول. به بس کې د خدای دی فضل کوی او کلیمې ویلو ږغونه پورته شول. یو وسله وال چې تور مول یې وهلی وو او یوازې یې دوې په رنجو توري سترګې ښکارېدې ، بس ته راوخوت او په آمرانه لهجه یې وویل:
ټول نارینه دی کوز شی !
د سپرلیو ناړې په خوله کې وچې شوی او وښتان یې په بدن نیغ ودرېدل او ببله کومې خبرې له بس نه کوز شول
یو سپرلی په عاجزی وپوښتل:
- سپا سرې مو څنګه کېږې؟
- هله ځی هغوی دی دلته پاته شی.
- او سپین ږیرې؟
- هله ټوله ټوله.
د کوم یوه د آخ چغه او د لوېدو ږغ د سپرلیو پښې لا ور چابکې کړې...
- هله په منډه منډه غره ته پورته شی !
سپرلیو مخ په غره ځغاستل، نه پوهېدل چې څه به کیږی؟
په خبرو بندیز لګول شوی وو بیا هم ځینو به چې وخت وموند نو یو بل سره به بونګېده.
بیا د یو ډز په کېدو سره ټوله ودرېدله او شا ته یې وکتله یو زوړ بوډا چې په لارې سم نه شوای تلای څه دې ته چې پر غره پورته او منډې وکړی پر ځمکه ولوېدی او هڅه یې کوله مخ قبلې ته وګرځوي د بوډا په لېدو ځینو چوټې او بوټونه ویستله او په لوڅو پښو د غره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ختلو شوله، ځینو د جیبو نه څه ایستل په ګوتو کي یې له مروړلو وروسته کندو ته غورځوله ،چا چا لا خپل ساعتونه په ګنډو وهله.
- ودریږی !
ږغ تر غوز شو.
د ټولو پښې سوستې شوې او ودریدل مخ یې د ږغ خواته واړوئ یوه وسله وال کیڼی خوا ته اشاره کوله
ټوله ببله کومي پوښتني کیڼی خواته په ګرځیدو شوله لمر په ډوبېدو وو د نواب سترګو ته اوس هم د روپۍ او جمال دوری ایسته کېدل
نواب د ځان سره وویل:
اوس به غټ شوی وي
د هغو د بابا ویلو په یادولو به یې خوله چینګه شوه په هم دې چورتونو کي وو چي د جنګي الوتوکو بوغ شو او غورپ...
نواب چي سترګې پرانیستلې سره غرمه وه تپوسانو یې پر سر د بخوا هاخوا ګرځېدله او راګرحیدله
په سختۍ سره له ځایه جګ شو پښې یې په تیږو او اغزو پرې پرې وې د سړک خوا ته رهی شو په لاره کې یې د بس په وینو لړل شوی یو - دوه ټوټې ولېدې په پښو یې د روپۍ او جمال د لېدو په تکل د کلی تړه واخېستله ، سترګې یې له ستړیا مرغې مرغې کېدلې او د یو ارام بستر په تمه روان وو
له ډیرو کړلېچونو او پیچومو وروسته ایله د کلی بوکلی بامونه او چپرې او پرچالونه د یو بل پسې را ښکاره شول.
داسې ایسیده چي دا د اسکېرلي او ربړېدلی نواب د مزله پای دی ، زړه یې په ټنګ کوکل کې په ترپکو شو ، د زړه درزا یې خپله اورېده. ستړیا او لوږه یې ورکه شوه ، نور د لمر وړانګو پر لوړو غرو خپل زرین شال غوړولی وو. د غواوو او مېږو رمباړو او امبا امبا د مرغانو چاڼ چوڼ اورېده کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نواب تلوسه وه چې ژر کاله ته ځان ورسوي او هلته د یوه کال کړاونه د مزله ستړیاوې او ربړونه د خپل ژوند ملګرې لښتې په تاوده غیږ کې هیر کړي. په همدې چورتونو کې د کور مخې ته راورسید.

یو ان ودرېد . د مزله ترخې دوړې یې له سر او کالو وڅنډلې.

جورت یې نه شوای کولای په یو وار کور ته ننوځی سترګې یې له خوشالۍ د ژړا ډکې وې ځان یې ټینګ کړ ، سل زړونه یې یو کړله او په کاله ننوت.

خو هلته څوک نه ښکارېده په یو کوټه کې یې پلار پر مسِّله ناست او وظیفه یې کوله. د نواب په سلام سره یې لږ جټکه وخوړله، خو بېرته په ځای کېناست. نواب د پلار پر لاسو پریوت پلار یې پر مخ سترګې لاس تیر کړ داسې ایسېده چې په سترګو څه نه وینی، نواب یې غیږ کې ونیوه او ښه ګړۍ یې به ژړا د پلار سره د زړه خواله وکړه.

پلار یې خوشاله وو چې د سترګو روښنایې یې بیرته موندلې وه ، بوډۍ مور یې لښته او ماشومان یې نه ښکارېده ، د پلار نه یې په شرم سره وپوښتل:

-آبا ادې او زما کډه چیرې دې؟

پلار یې په داسې حال کې چې سترګې یې کښته اچولې وې وویل:

- ادې دې د خسو ټولولو لپاره وتلې ده چې د کور تنور پر تود کړي.

بوډۍ مور یې لا خبره نه وه چې ورک زوی یې راغلې دی.

پلار یې نور غلی شو د نواب د زړه درزا وار په وار وچتېده پلار یې لکه کوم شی چې په یاد شوی وی پر خپلو غوږونو لاس ونیوی.

د ژړا نارې سورې یې غوږونو کې انګازې کولې:

نه پلاره ! دا کار مه کوه ! ما مړه که ! ما ... !

د پلار له سترګو نه یې اوښکې توې شوې، نواب د پلار پر لاسونو پروت وو او هغه یې په نارو لانده کړې وه په سترګو او خوله یې مښل او زاری یې کولې

-آبا زما کډه !؟

پلار یې د زړه غوټې، خبرو ته نه پرېښودی ښه ګړې چوپ وو او بیا یې په ګونګۍ ژبه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زویه !ته چي جلب او احضار بوتلې ، څو ورځي وروسته قوا وتښتېده او نوی خلک کلی ته راغلل د هغو کازی(قاضی) د کلی خلک را وغوښتل او دا اوکم (حکم) يې وکړ چي ټوله هغه مړوښې ښځې چي میړونه يې د کمونیستانو سره کار کوی که تر شلو ورځو پوری د کلی خلکو ته په نکاح نه شی بیا يې واک زموږ دی.
نواب د زړه درزا د لیری نه اورېده کېده نو په تلوار يې وپوښتل:
-نو بیا !
پلار يې به داسې حال کي چي څو ځاځکي
د نهیلۍ او بې وسۍ اوښکې په ګریوانه توی شوی او ویې ویل:
-نو څه !
-نو هغه...
پلار يې یو ان چوپ شو یو ان وروسته يې په چغو چغو وویل:
نو هغه کومندان ځان ته نیکا....
د نواب په سترګو توره تیاره شوه سر يې پر له وګرځېده د پښو شومه يې وخته په دیوال يې تکیه وکړه خو وښوید او ولوید ، یو ان همداسې بې سده وو.
راپورته شو لونګۍ يې له مځکې وويښتله او سر يې د دیوال سره دومره ووهه چي وینو يې تر لمنې پوری ورنګاوه ښایسته ګړۍ يې په کوټه کي وچورلېد او وبونګېد. ځان يې تر ټولو نیستمن او اسکیرلۍ وګاڼه وننید ، سترګې يې ولوېدې ،مړ شو خو لوګی ترې پورته کېده او ځان سره يې لکه سودایي لګیا وو او بونګېده
دا ولی داسی وشوه؟
پوښتنې يې په مغزو کې ګرځېدې را ګرځېدې ؟؟؟
له ځان سره يې وویل:
کاشکی له عسکری څخه د تښتید و په وخت په مین ختلۍ وای !
یا د پهره دارانو په ډزو لګېدلی وای !
یا هم د غره په بمبارد کي لکه نورو شهید شوی وای !

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه ورته تنګه ښکاربده ، سا یې کوګل کې بنده بنده کېده د کوره ووت او د غره خواته رهی شو

مور یې چې کور ته راغله خبره شوه چې د سترګو تور ورک زوی یې راغلی دی نو د ښخوا هاخوا یې لکه لېونۍ په منډه وه.

نواب د غره سر ته ورسید . او د غره په څوکه ودرید پورته یې وکتل خو زړه یې تسل نه شو د ښخوا هاخوا یې وکتل لکه کوم شی چې یې ورک کړی وی د یوې لوی ډبرې په لیدو څه ډاډه شو او هغه یې په کړاو د غره څوکې خواته کش کړه او پر ودرید ، پورته یې وکتل بیا یې هم زړه تسل نه شو.یوه بله ډبره یې د غټې ډبرې پر سر کیښوده او پر ودرید ،او بیر هغه یې ځان پورته او په ګوتو ودرید او د نهیلۍ او ناومیندۍ نه به ډکو سترګو یې پاس وکتل ، اسمان به تورو او خړو وریځو کې پوټ وو . نو په هر څه توان چې یې درلود چغه یې وکړه:

آه خدایه !

آ خدایه...

دا چغې لیرو غرونو له هغه نه نورو لیری غرو ته د هغه نه نورو غرو ته ولاړې

چو په چو پتیا شوه یو ان وروسته غرونو هم وروسره نارې کړې

آ خدایه...

آ خدایه آ خدایه آ خدایه...

خو وریځی وغوړمبیدې مځکه او غر یې روښانه کړ او بیا یې زار زار وژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرور

اوس هم ځينې وخت د غره کلي خلک د تګ او راتګ په وخت کې د سړک په خوا سماوار کې د دمې جوړولو لپاره کښيني چې نږدې ورته ځينې کليوالې پخسه يې کورونه ودان دي. هر مازيګر د همدې سماوار نه کليوالی سندرې اوريدل کيږي د سماوار مخې ته د کبابی انګيټې ايښي چې د ورځې له خوا دود ترې پورته کيږي. د سماوار له تخته د تير شوی سړک کوز سر ښه ښکاري.

د دې ځای په ليدو ما ته يوه پخوانۍ کيسه را په ياديږي ، هغه د لسو - دولسو کالو مخکې کيسه، ښه مې په ياد دي چې له ډيرې مودې وروسته خپل کلي ته راغلی وم او د دغه سماوار د تخت له پاسه ناست وم چې په سړک کې يوه ګڼه ګوڼه شوه او زموږ خوا ته کرار کرار رانږدې کېده د دې ګڼه ګوڼې مخې ته يو لېونی په داسې حال کې چې په منډو وو د ښخوا ته راتی او په بې وزلۍ يې ويل:

ما ولې ولې؟

د دې خبرو به ترخ کې به يې يوه يوه ښکنځله هم کوله خو هيڅ ګټه يې نه لرله.

تر شا يوه ډله هلکان ورپسې وه ، په ډبرو ، لوټو او بل هر هغه شي چې په لاس ورتلل وار به يې پر کاوه. د لېونی د چغو او ځغاستې څخه يې خوند اخېست او ځوربدل يې دوی ته يوه لوبه وه.

په هغه خوار مې زړه وسو نو له ځايه پورته شوم هلکانو ته مې وويل:

او لوچګانو ! بې ادبو ! دا بې وزلۍ ولې ولې؟ لېونی هم په عاجزي د سر په اشاره زما خبرې تاييد ولې. زما د دې پلوي سره هلکان څه پر شا شول ، لېونی يې پريښود. لېونی ما ته را نژدې شو هغه ته ښه ځير شوم. يو ټيټ قد چيچکی تورتيلې سړی وچې په يوه سترګه کې يې ګل وو ، سپينه توره ( ماش و برنج ) ببره ږيره يې چې سپين ډير په کې مالومېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړې چونې یې درلودې ، غاړه یې شلېدلې ، زړې جامې یې وی او د تخرګ لاندې یې یوه غوټه ښکارېده او لوخې پښې وو ، د تنګ په وخت کې یې سترګې چوغې نیولې وې او یو نیم سترګک به یې واهه چې په لېدو به یې هرومرو چا ته خندا ورتله.
زما زړه پرې وسو تر لاس مې ونیوې او د سماوار تخت ته مې را پورته کړ او کبابی ته مې په اشاره د کباب او چاینکی سپارښتنه وکړه د ځان سره مې سوچ وکړ چې راشه نن دا خوار په ګېډه موړ کړه، نو پرله پسې مې د کباب او چاینکی فرمایښت ورکاوه لېونی په اریانی سره کله ما ته او کله شاوخوا ته کتل او کله به یې په شکمنو سره اسمان ته کتله او هم یې تر سترګو لاندی کبابی او د هغه شاګرد ته کتل باور یې نه راته ځکه دی تل په تشه ګېډه له دی ځایه تیر شوی و ، خو چا ورته د یو غړوپ چایو ست کدری هم نه وو ورته کړی.
په ډیره بېړه او وارختایي یې ګوله تر خولې رسوله او ژوندی ژوندی به یې تیروله لا یې څو نمړۍ نه وې کړی چې سولګۍ وهل یې پیل کړه د تخت د څنګ آبدان نه می یوه دولچه اوبه ورته راواخېستې.
لېوني د ځان سره د خوړولو په لوبه اخته وو وروسته مې ترې وپوښتل:
بابا ولی دې و رځی ته رسیدلی یې ؟
ځواب یې را نه کړ ښایي د خولې چړپې په سبب یې زما خبرې نه یې اورېدلې.
خپله لمن یې را پورته کړه د شونډو دواړی خواوې یې د لمني په څوکې پاکې کړې، په شمیر یې درې خوراکه کباب او دوه چاینکې نوش جان کړه.
دا وخت ما ته دا سودا را ولوېده «نه چې څه په و شی»؟ !
لېونی په داسې حال کي چې اخیری نمړۍ یې تیروله وویل:
دا پنځه کاله مې غوښه نه ده خوړلې !
ددې خبرې په اورېدو جوړ سړی راته ښکاره شو. بیا یې را ته وویل:
رښتیا غواړې زما د ژوند کیسه واورې؟
ما وویل:
- هو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی سترګې چوغې کړې او د يوې ليرې ټکي ته يې ونيولې داسې ښکارېده چې د يوې پخوانۍ خاطرې د يادولو لپاره سوچ کوي.
او نابېره يې داسې پيل کړه:
(... زه له ورکتوبه بد بخته وم. بدرنګه وم. پلار مې د ښايسته ګل نوم را باندې کيښود او ددې نوم سره له هم هغه ماشومتوبه د خلکو ، همزولو او کليوالو پسخندې شوم. له ځايه جګ شو يو لاس يې غوږ ته ونيو او بل لاس يې موږ ته او نارې يې کړل:
يه قربان روی ته ديده بودم ، موی ته ديده بودم.
او ا ورېې يې ورسره پورته کښته کولې.
په سماوار کي ناست خلک د ده د نڅاه په ليدو شول ، لېونی په نڅاه نڅاه کي لوړ وکتل تندی يې ګونځې کړ او کيناست.
خپل مخ ته يې اشاره وکړه او په شکايت يې وويل. ګوره دا خو ما نه دی جوړ کړی؟ سر يې کښته واچوه او لاس يې پورته ونيوه
لېونی خپله پزه به غوړه لمن پاکه کړه او د لږ ځنډ و روسته بيا يې لاس اسمان ته ونيوی او ويې ويل:
زما پلار يې را مړ کړ، مور يې را مړه کړه. چوپ شو بيا يې اسمان ته په خوابتيا وکتل.
له کلي نه و ښار ته ولاړم او هلته په يوه موسسه کي پياده شوم ، له غروره نه يې په بريتو لاس تير کړ.
لېونی کيسه ډيره سره را لنډه وله د تلو تلوار يې وو خو ما به ښه ښه ويلو دی هڅوی چې کيسه را ته پوره کړی.
لېونی څه شيبه غلی شو ، يو سوړ اسويلی يې ويسته نظر يې د اسمان په ژورو کي ډوب کړ او ويې ويل:
«د منی به سړو ورځو او شپو کي يوه ورځ عجبه ورځ وه واوره وه ، يخ و. باد و ، توپان و. ساړه مې کيده د سيليو د مخنيوی په خاطر مې د کوټې کړکۍ او ماتې ښيښې په ورځپاڼو بندولې»
بيا له ځايه ولاړ شو او کټ کټ په خندا شو او نارې يې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



به قربان رویش دیده بودم مویش دیده بودم.
او په نڅاه شو ما له لاسه ونیوه هغه چوپ شو او کیناست. زما غوږ ته یې خوله را نږدې کړه او ورو یې را ته وویل:
«کوټې ته څوک را ننوتله،
د لاس به ټپولو یې ور پرانیست»
زما له غوږ نه یې خوله لیرې کړه، او زما څخه یې په تونده لهجه وپوښتل:
- پوه شوې څوک وه؟
ما ویل:
-نه !
- زه پوهیږم چې نه پوهیږې ته څه دا ټوله دنیا دې نه پوهیږې !
که پوه هم وې نه یې وایې، قست یې را کیږې !
ږغ یې لږ پورته کړ او ویې ویل:
«یوه ښایسته انجلۍ وه انجلۍ نه وه د څوارلسمې سپوږمۍ وه»
په آسمان کې یې پښځه – شپږ دقیقې د سپوږمۍ پسې وکتله سر یې د نارضایتی په توګه وښوراوه ، په شونډو یې یوه ترخه موسکا خپره شوه.
زما غوږ ته یې بیا خوله را نږدې کړه او د راز په ټوګه یې وویل:
«هغې ویل:
څوک شته آ ! څوک شته؟»
خوله یې زما له غوږه نه لیرې کړه او په لوړ ږغ یې وویل:
«ما ورته وویل:
څوک دې په کار دې؟»
بیا یې زما په غوږ کې ورو وویل:
«هغې ویل:
خیر غواړمه. ړنده یمه !»
بیا یې په عادي ټوګه زیاته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«پوه شوم په سترګو نه وینې و رپاڅېدم د لاسه می ونیوله ، او یوې خوا ته مې کښېنوله»
اوا ړ یې ورو کړ لړ رانږدې شو او زیاته یې کړه:
د هغې په څېره کې د غمنو او ترخه ژوند نښې لیدل کېدې هغې په عاجزی په داسې ږغ چې نورې پوتې خبری هم په کښې نغښتی وې ویل:
« ړنده یمه خیر غواړمه !
لېونی بیا د ږغ تون ته تغیر ورکړ او ویې ویل:
دا مې په ژوندکې لومړی څوک وو چې زما ټولو پوښتنو او خبرو ته یې له زړه نه غوږ نیولی وو او خبرې مې ورته د درنښته نه ډکې وې اودا زما لکه یو انسان یو ارمان و !
چې خبرې همدې ځای ته ورسیدې، لېونی د چایو په لیدو لکه ماشوم خوښ شو. شاوخوا یې تر سترګو تیره کړه ، زه یې هم په څېر څېر تر سترګو تیر کړم. ترې وډارشوم.
بیا چورت کې ولاړ مځکې ته یې وکتل او ژر ژر یې سترګې ولغړولې لکه چې د خپلو خاطراتو شلیدلې مزی یې بیرته سره نښلولې او ویې ویل:
هو !د هغې به خبرو کې د غمو او ترخه ژوند نښې لېدې نو زړه کې ډیری پوښتنې ګرځېدې»
لېونی یو وار بیا چوپ شو.
زه د لېونی کیسې ته ټول غوږ غوږ وم او هغه په دې ډېر خوشالېده چې ما په غور غوږ ورته نیولی وو.
هغه د پخوانې کیسې په یادولو نور هم هیجانی کېده او لاسو او ورو په خوځولو یې هڅه کوله ټولې پېښې تمثل کړی په داسې حال کې چې د غره څوکې ته چې له لیری مالومېده یو وار بیا څېر شو . ورویې زما غوږ کې وویل:
په هغه سبا انجلۍ بیا راغله او بل سبا بیا او بیا...
لېونی په خوشالۍ زیاته کړه:
«ما د ځان سره سوچ وکړ چې څه کیږی چې یو بې وږلۍ د بل بې وزلې موټ شی، ګوندې د بو بل په تودوخه تاوده شو.
نو ورو مې په داسې چې ړنده ا نجلۍ ونه ځوریږی ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده دی کړی ؟
هغې کټ کټ وخندل په ځواب یې پوه شوم
لېونی بیا زما نه وپوښتل:ته پوه شوی ؟
ما د واره وویل:
-هو ،
لېونی په داسې حال کې چې د هغې غونډۍ خواته یو ځل بیا وکتل چې هره ورځ به هغې خوا ته تې.
یو اوږد اسویلی یې وکښل لکه چې د زړه د غمونو بنی، یې تشه وله. او په خندا یې زیاته کړه:
-او موږ واده سره وکړ.
له ځایه جګ شو یو لاس یې په غوږ او بل لاس یې زموږ خوا ته ونیوه:
یه قریان، رویش دیده بودم. مویش دیده بودم. او په نڅاه شو
بیا کیناست څه شیبه چوپ شو او په داسې حال کې چې په لاس یې اسمان ته اشاره کوله د ستونې نه یې اواز نه پورته کیده په ژړا نده ږغ یې وویل:
افسوس !
لېونی یو اند بیا چوب وو په خپله ګنه ږیره کې یې منګولې ننیستلې وې هغه یې ګروله او اوښکې یې پر مخ راتوی شوی غوښتل یې څه ووایي خو د ستونې غوټې یې نه پرېښودی لاس یې آسمان ته ونیوه په ډیر مشکل یې زه پو کړم چې هغه هم ژر مړه شوه او پر هغه غونډۍ یې خاورو ته سپارلې ده.
لېونی سترګې د اسمان په ژورو کې بیا ښخی کړی ، سترګې یې برګې شوی ، غوز یې ونیوی سر یې وښوراوه او بیا یې غوږ ونیوه او په یوه ټوپ له تخته کوز شو او بېله څه ویلو یې د غونډۍ په لور وډانګل د هلکانو خواته ورغی لکه چې بېله د هغو د ویشتلو تګ خوند نه ورکاوه. هلکانو چې تیاری لوټې او ډبرې په لاسو کې پوټی نیولی وې ورپسې منډی کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی د سړک په منځ کې ودرید یو وار یې بیا اسمان ته په مروره ټوګه وکتله ځان ته یې اشاره وکړه ،زموږ خوا ته یې په خوشالۍ وکتله او په ځغاسته شو.
ږغ یې تر اوسه زما په غوږونو کې انګازې کوی
چې ګوته به یې زنې ته ونیوله او ورو به یې په اریانونکې لهجه ویل:
آ ، ما ولی ولې؟
سبا بیا هلکان د هغه انتظار کاوه لوټې او ډبرې یې تیاری به جیبو کې ورته ساتلی وې خو هغه بیا رانغی هلکان خپه وه چې ولی لېونی بیا را نه غلی او څه په وشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غم

یوه ناوې په لوڅ سر او لوڅو پښو په سره جوړه کې په چیغو چیغو د ګڼه ګوڼې خوا ته په ځغا ستهوه د هغې په لیدو خلک ورو وروسره لیری شول او هغې ته یې لاره خوشی کړه ، هلته دوه ولاړ توپکوال د هغې په لیدو د ګڼه ګوڼې نه ووتل پر میدان یو مړی پروت او یو په وینو لړلی سړی ولاړ وو.

سهار د لمانځه وخت د بړستنې لاندې تو خی شو او له توخې سره سم یو سپین ږیری له بړستنې لاس وغځوی او له واسکټ له جیبه یې د نسوارو ډبلی راوکښښ او د تل په شان یې یوه خوله نسوار خولې ته واچوله او بیا لکه مار له بړستنې وغزید د کړکۍ نه یې پرده پورته کړه، او په غوم غوم یې له ځانه سره څه وویل.او بیا یې سر پر زنګونو کېښود ، چرت کې لا نه وو تلی چې په زړه کې یې څه وګرځېدل ، د کړکۍ نه یې بیا بهر وکتل او له ځانه سره یې وویل:

آ، رښتیا ! چې وریځ ده.

او له دې خبرې سره سمدلاسه له ځایه جګ شو او د خپلې وړې شانته کوټې ور یې پرانیست او ووت. له اودس تازه کولو وروسته یې په بېړه په پټو مخ او لاسونه وچ کړل، خپله لونګۍ او واسکټ یې واخېست او په وتووتو کې یې د بلې کوټې مخې ته ودرید ورو یې ږغ کړل:

لوری نازې ! پاخېږه د لمانځه وخت دی، وریځ ده چې لمونځ درنه قضا نه شي ( دا توله خبرې یې په یوه سا وکړې ). د انګر ور یې چې د زګیروې په شان ږغ یې درلود پرانېست او له کوره ووت.

له لمانځه وروسته د ده د رسېدو سره جوخت آسمان هم وغورمبېد او د باران شرپ شو تا به ویل نه چې اسمان سوری شو د هرې بریښنا سره به د ده د تندی ګونځې چې د پراخ غم علامې په کې له ورایه ښکارېدې ، لېدل کېدې. خلکو د تندی د ګونځو شمېر د خویندو د شمېر ښکارندوی بلله خو نسیم اکا هېڅ یوه خور هم نه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نسیم اکا د سپیني ږیري، ګونځې ګونځې تندی او مخ په لېدو د اسې ښکارېده چې د ټول عالم غمونه او کړاونه د ده پر سر دي او د دی یې ګالي.
نسیم اکا ته نن بیا لکه هره ورځ هم هغه د لس کاله مخته پېښه ور په یاد شوه چې په همدا سې یوه ورځ جبار خان د دوی کره مرکه ورلېږلې وه چې نازي چې په کلي کې تر ټولو ښکلې ا نجلۍ وه خپل زوی جلندر ته کوژده کړي، خو نسیم اکا دا خبښې ونه منله او مرکې ته یې ځواب ورکړ نسیم اکا په زړه سپین او پاک زړی سړی وو پټه په کې نه وه نو په ډاګه یې مرکې ته وویلي وه: جلندر یو ناکاره او برند هلک دی ټوله ورځ لنډه غر په دې او هغه کوڅه کې ګرځي راګرځي نه یې کار شته نه روزګار او بل دا چې زما د لور دا سې چغر سترګی ځوان نه خوښېږی.( نسیم اکا دا ټولی خبرې په یوه سا او پوټو سترګو کړې وې )
جبار خان د مرکې و مخي ته څه و نه ویل او چې بهر راووت نو په خپل ګلېټی ټوپک یې څو ډزی وکړې.
کلیوال د نوي خبر اورېدو ته منتظر وه ځکه په کلي کې خو ډزي یوازي د سنتي، کوژدې او د هلک د زېږېدو په وخت کېدې نو کوشنیان او لویان به راوته او دا خبر به یې په نورو ته د زیري په ټوګه کاوه. د ننني ډزو وروسته په کلي کې دا خبره لکه ورېمه خپره شوه چې نسیم اکا خپله لور جبار خان ته وښله.
د نسیم اکا سوچونه چې دې ځای ته راورسیدل، نازي د یوې انګیټی سره کوټې ته راننوتله ،د نسیم اکا د چرتونو لړۍ سره وشلېده انګیټۍ ته یې لږ ځان ورنږدې کړ، نازي چای وروا چولې ، نسیم اکا په چوپتیا سره څه چای وڅښلې او بیا یې ورونازی ته وویل:
لوری د دوکان کیلۍ راکړه چې دا شیبه باران لږ څه ودرېدی د پسرلي باران دی بیا به یې شرپ شي او تلل به راته ګران شي.
-بابا چای دي ولي ونه څښلې؟
-زویه ! بیا باران ډېرېږي.
د دې خبرې سره سم پاڅېده د کړکۍ نه یې یو ځل بیا په ځېر ځېر بهر وکتل، ننني ورځ او فضا کوم بل ډول ورته ښکاره شوه د ګڼو پسرلنیو وریځو لښکر د آسمان ټوله لمن نېولې وه تا به ویل کومي خوا ته یې د یرغل ټکل درلود د تورو ګڼو وریځو په لېدو یې زړه لا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرومه ډک شو ،غمجني سترګې يې له کړکۍ نه راوګرځولې یو سوړ اسویلی يې وکیښ ، د وره خوا ته ولاړ د سترګو له کونجو يې يووار بیا په غلا خپلې لور ته وکتل داسې ښکارېده چي د لور نه شرمېږي، خپلی کلوشې يې په پښو کړې او د کوټې نه ووت.
کوڅه له خټو او چیکړو ډکه وه، نسيم اکا به په داسو ورځو کې هرومرو یو – دوه ټکه خوړله خو نن يې دواړه پايڅې په دواړو لاسو پورته نیولي وې چي په خټو نه شي او پښې يې ارتي ارتي ايښودلې چي بيا ونه ښويږي او له هر ګام نه مخکي به يې لومړی مځکي ته کتل، د دوکان ور يې پرانېست، زړه پيتلي کوتۍ يې د سماوار شاګرد ته ورکړه هغه کوتۍ له سکروټو ډکه ورته راوړه او نسیم اکا هغه د صندلي لاندي کېښودل او زوړ بړستن يې په راکښ کړ تر ستوني به صندلي کي ننوت. بيا سوچونو راګير کړ هم هغه سوچونو کي چي نن يې له سهاره نه پريښود هغه د نازي د تير ژوند او راتلونکي په هکله اوږده چورتونه او بې شميره پوښتني وې.
د جبار خان څو وار ګوا ښېدل يې په ياد شوه چي ورته يې ويلي وه:
- ستا لور زما ناموس ده زړه دی زړوې يې که وادوې يې.....
( دا خبري يې ډير په کبر او غرور کړي وې )
د نسیم اکا په مغزو کي دا خبرې ګرځېدې راګرځېدې او په غوږو کي يې ازانګې کولې:
زما زما زما....... ناموس... ناموس.....موس
زړه يې غوښت پر ځان کالي څيري کړي نابره يې يو څه ورپه ياد شول لږ خوشاله غوندي شو خو ژر يې بيا پر تندي ګونځې راښکاره شوې په ياد يې شوه چي څو واري جبار خان ته ننواتي ورغلی او په زاريو يې ورته ويلي وه:
- د خدای لپاره د دې خبرې تير شه ته د هغه د نيکه پر ځای يې زه رضا يم هغه ستا زوی ته درکړم.
جبار خان ورته په ملنډو ويلي وه :
- توبه وباسه هغه زما د زوی مور ده او بل دا چي هغه چغر سترګې دی او د هغې کله داسي هلکان خوښيږي او هغه اوس دوه نوروادونه لري دا زما د لاس امسا ده....

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې چورتونو کې وو چې د سماوار شاګرد د نسوارو ډبلی او دوې افغانۍ ورکړې ده هم د نسوارو ډبلی ورډک کړ.
بیا یې ښځه ور په یاد شوه چې هره ښه شی چې به یې کور ته راغلې هغې به د لور لپاره پټوی او ویل به یې:
- دا مې د لورقلنګ ته ساتم. آن د واده تر کمیسه یې ورته جوړ کړې وو
نسیم اکا ټوله ورځ په همدې چورتونو کې تېره کړه ،دوکان خوند نه ورکاوه او مځکې ځای ،د نورو ورځو پر خلاف د مازیګر له لمانځه نه مخکې کورته راغی. د کور ور یې پورې واهه کور ته ننوت د کوټې د نیم کښه وره نه یې نازي ولېده چې د واده جوړه یې اغوستې د مور ګانې یې چې دې ته پاته وې په غاړه او لاسو کړې وې او د هېنداري سره یې خبري کولې:
آ ، یوازې مې لاسونه سره نه دي نوره پوره ناوې غوندې یمه، ښه ښکارم ! بدرنګه خو نه یمه ! تر چا کمه یمه.....
نسیم اکا د نازي په لیدو چې دا لس کاله غم یې تور وېښته تار تار سپین کړي وه د شېږو وېښتو کلو په درلودو د څلو وېښتو کلو ښکارېده، ډیر غمجن کړ د خپلې لور نېمه خوا شوې ځواني او نا پوره شوي ارمانو یې پر زړه د غمو شپول چاپیر کړ او ر پرې بل او مځکه پر تنګه شوه د کور له انګړ نه یې د لرګو تبرچه را واخېسته او په پوټه خوله د کوره ووت ، په داسې حال کې چې تبرچه یې د پټو لاندې نیولې وه د ماجد پر ځای د لاری په سر کېناست او سترګې یې د کوڅې په بل سر میخ شوې.
جبارخان د دوو نوکرانو سره چې توپکان یې پر اوږو وه را ښکاره شول. د نسیم اکا د زړه درزا وار په وار ډیرېده.
جبار خان د تل په شان د تاوده روغبړ تمه لرله او په ډیر کبر او غرور ګام په ګام د نسیم اکا خوا ته نږدې کېده. نن د جبار خان زور څه ارزښت نه ورته درلود د هغه په زړه کې د غچ او کسات لمبې بلې وې او زړه یې له بې شمېره دردونو ډک وو له هم دې کبله به هم وو چې غبرګ لاسونه یې بې اختیاره پورته شول او بیا هم دویم وار....
درېیم ګذار یې لا نه وو کړی چې د څو ډزو سره پر مځکه ولوېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستیو سلګیو کې یې کومه خبره چې له خولې وته هغه یوازي دا وه:
نا نا نا....ززز.....ی ی ی
د ډزو په اورېدو د کورونو نه بیا واړه او زاړه راووتله چي څه خبره ده.
نازی چي د ناپایه آرمانو په خیال کي ډوبه وه یو ماشوم د مازیګري لمر د وروستیو پلوشو سره دا خبر وروړ، دا خبره پر نازي د تندر په شان ولوېد ، له وارختایي نه د واده په جوړه او ګاڼو کي په لوڅ سر او پښو په ځغاسته ځان دغچ میدان ته ورساوه د پلار په مړي یې ځان واچاوه خو ژر یې سر راپورته کړ تبرچه یې له مځکي پورته کړله او دا وخت یې د یوې رښتني ناوی په شان لاسونه سره شوی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غولېدلی

«جماله ډګروال ته ږغ که !» په ږغ سره یو زوړ سړی ، چې ږیره او بریت یې پاک خرییلی وه ملا یې پر کمر بند ټینګه تړلې او د شپو خولې یې پر سر وه ببله سونه او حرکته د یوې ښځې چې غټې تونې شوی و ښتانو یې کوشنی مخ نور هم کوشنی کړی و او لکه مار چېچلې له غوسې تاو تاو کېده و مخی ته ودرید.

ښځې کځوړه په لاس کې ورکړه...

ډګروال لکه چې ګونګ وی ببله کومې خبرې کیناست د بوټونو تنۍ یې وتړلې او د تل په شان یې د لاس او مګا ساعت ته چې شل کاله مخکې یې د غیرت د مدال سره یو ځای ورکړ شوی وو اوس یې زنګ وهلی وو ته ځیر ځیر وکتل ، بیا یې زړه نا زړه د دهلیز ساعت ته وکتل ، ځان سره وبونګېده او په خوشالۍ له کوره ووت د بس تم ځای ته ولاړ او په بس کې کیناست ، چې لږ هوسا شو بیا یې له غوسې خپل غاښو نه وچېچل او وروریې وویل:

څه چاره؟ ( ځکه یو وار د غصې یوې چپلاغې تر محاکمې رسولی وو خوهندی وکیل له غمه خلاص کړی وو او ورته یې وویلی وه دا د افغانستان کارونه نور هیر کړه دلته ښځو سره په زوره خبرې کول ،ماشومان په چپلاغه وهل او حیوا ماتو ته کیشه ویل جرم دی که غواړی دلته ژوند وکړی باید د دې ځای قوانین ومنې )

نو د هغه راهیسې یې نور ځان ګونګ کړی وو په خوله یې څه نه ویل خو په زړه کې به یې څه تیر شول نو له غوسې به یې غاښونه وچېچل.

په دې ټوګه به یې ځان تسل کړ.

کله کله به په بس کې چورت یو وړ اوله خندا به ومو سېدی او کله کله بیا کټ کټ په خندا شو او ځینې وختونه به پړک په ژړا شو خو ژر به یې ځان ټول کړ او د شاو خوا خلکو نه به یې ښنه وغوښتله،نن بیا ور په یاد شول چې دلته څنګه په مشکلاتو راورسیدل او څه خوږ ژوند یې درلود . خو میرمن یې کرار کرار د کومی یوې په لمسون خپل رنګ بدل کړ او دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په منګولې کې ونیوی، تنګ یې کړ او نوکر یې کړ پر خپل حالت یې ژړا ورغله ویې ژړل خپل پر ژړا له چورته راووت له شاو خوا خلکو نه یې ښښنه وغوښتله.
ډګروال ټول عمر په دې هیله چې وطن به جوړ شي او دی به بیا د کورنۍ اختیار تر لاسه کړی ، به کرار کرار سره خپلې سترګې خپله ړندې ، خپل غوږونه خپله کاڼه او خپله ژبه خپله ګونګۍ کړه...
اوس نو ټوله ورځ د سودا پسې ځی او راځی ، د لست مطابق سودا رانیسی. کورته د رسیدو سره سم هغه بېله کومې خبرې پر میز ایږدی ، خو بله کڅوړه هلته ورته په انتظار پراته وی
ډګروال بېله کومې خبرې تشه کڅوړه د لست او پیسو سره اخلې او د تل په شان بېله سترېیا د بس تم ځای ته ځی...
نن بیا د دو یمی سودا اخېستلو وروسته د سړک پر غاړه د سرویس په پلمه پر یوه څوکۍ کیناست او د موټرانو د تیریدو راتیریدو په ننداره شو او لکه تل د چورت اخېستلو او خوږو چورتونو په خاطر یې د ښرو قطۍ پر سر پورته کړه.
عسکر عسکری سلام ورته وکړاو دروسی جیپ موټر دروازه یې ورته پرانېستله ، او د ده امر ته منتظر وو..
میرمن یې د کور په وره کې ورته منتظره وه بېله ده یې ډوډۍ نه خوړله...
دا ټولوکارو خوند ورکړ له سترګو یې د خوشالۍ ړنی ړنی اوښکې توې شوی خو د سوچو نو مزی یې د یوه موټر د پرله پسې هارونو وشلوی سترګې یې وموښلې ، ښه ځیر شو د میرمنی موټر یې پر سړک ولاړ وو او ډیره په غوسه وه ښکنځل بدو رد یې ویل په غوسه یې سودا ترې واخېستله د موټر په شا کې یې کېښودله. یو وار یې بیا ډګروال ته بد وکتل او غاښونه یې ورته وچیچل.
ډګروال لکه چې ژبون یې تړل شوی وی هیڅ ونه ویل چې هغه ولاړه ،سترګې یې د ښخوا هاخوا ولغړولې او و رو یې له ځانه سره وویل:
ته وده چې وطن یو وار کرارشی بیا به سره ګورو !
ډګروال یو سوړ اسویلی وکیښ او دکور خوا ته په پښو کرا رکرار رهی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور کي د خندا ږغونه وه ډګروال چې ډیر وړی شوی وو پخلنځی ته ولاړ ښه بوی پرې ولګېده خولې یې اوبه وکړې د ښخوا هاخوا وګرځیده په دیګو نو کې یې څه ونه موندله د یخچال نه یې یوه د سبو قطۍ راواخېستله د پخلنځی ګړۍ ته یې وکتل هغه هم لکه نوروګړیو ثانیه ګړ نه درلود بیا یې خپلې اومګاګړۍ ته وکتل غوږ ته یې ونیوی خوشاله شو او اومید ورته پیدا شو چې تر اوسه کار کوی.خپل کوشنی کوټې ته ولاړ او پر خپل نا ټول شوی بستر وغزید او په چرتونو کې لاهو شو
. د اولادو سره وطن ته روان وو...
خو د و ره ټکولو له چرتونو راویست دا لومړی وار وو چې د شپې څوک ور ورټکوی.پولیس وو ډګروال یې د لاسه ونیوه له ځانه سره یې بوت ډګروال یې یو لیری ځای ته چې د ټولنیزو خدمتونو مرکز وو بوت او هلته یې یوه کوشنی کوټه وروښودله.
هلته هغه سپین ږیری او ناروغانو ژوند کوی چې مېرمنو او اولادونو شړلی وه.
ډګروال نوی کوټې ته راغی او پر نوی بستری پریوت اوله ځانه سر یې وویل:
ته وده چې وطن یووار کرار شی...
څه نوره حوصله کوم !
د دې ورځې وروسته ډګروال د ماشومانو ، ښځوو او کورنی حیواناتو ته عسکری غور سلام پیل کړ.
یوه شپه یې په رادیو کې واورېدل چې یو غل د غلا په وخت کې د دوکاندار لخوا ټپي شوی وونود غله د دعوا په اساس محاکمې دوکاندار درې میاښتی بندی کړ ځکه هغه بېله د محاکمې له امره غل د پولیسو تر راتګه په تشتاب کې بندی کړی وو او هم د غله د څلور کالو د کور مصرف په دوکاندار شو تر هغه چې د غله ټپ جوړیږی...
په اوریدو سره ډګروال غلو ته هم عسکری سلام کول پیل کړل دا چې نه پوهېده څوک غل او څوک نه دی نو هر چا ته یې غوړ عسکری سلام کاوه
څو ورځی وروسته دی سلام اچولو تر دارالمجانینه ورساوه او لاسونه یې هم وروتړله چې په دې سلامونو چا ته ضرر ونه رسوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوې میاشتې وروسته یې نن مشره لور د تور بای فرېنډ سره د مور په پوټه دیدن ته راغله چي خپل پلار ووینی.

ډگروال د لومړی ځل لپاره یوازی د لور د بای فرېنډ په لیدو ړنې ړنې اوښکې لکه باران توی کړی او ببله دی چي څه ووایي خپلې کوټې ته ستون شو.

د لاس ساعت یې چي له اوله زنگ وهلی وو خو ده سوچ کاوه چي کار کوی او ځان یې غولوی ته یو وار بیا ځیر ځیر وکتل هغه یې له لاسه خلاص کړ او غوږ ته یې ونیوی بیا یې تر سترگو تیر کړ به نهیلۍ یې د روجایي څخه یې یوه ټوټه پرې کړله او ساعت یې په کې ونغښت او د بالښت لاندې یې کېښود او په خندا شو او په زوره زوره یې وویل:دا کم بخت هم مړ شو او په ژړا یې ویل:

کله به دا وطن جوړ شی؟



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**